د حق دعوت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د حق دعوت

جاوید احمد غامدي

ژباړه: رحمت شاه فراز

دین و دانش

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لیکلړ

زمورِ دعوت (٦)

په خدای ایمان (١٠)

اصول او مبادي (٢٦)

حق دین (٣٠)

اسلام او دولت (٥٢)

نهي عن المنکر (٦٥)

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سریزه

اسلام د خدای دین دی. د دې دین صحیح تعبیر څه دی؟ په دې رساله کې همدا بیان شوي، او همدې تعبیر ته د دعوت لپاره ترتیب شوې ده. دې رسالې ته چې کومې لیکنې انتخاب شوې دي، هغه په اجمال کې هغه ټول دین ته د بیان ژبه ورکوي، چې موږ یې شرح او وضاحت په خپل کتاب «میزان» کې کړی دی. له دې رسالې نه مقصود دا دی چې په اوسني عصر کې د اسلام د دعوت لپاره دا تعبیر هر عارف او عامي ته ورسول شي:

راهی که خضر داشت ز سرچشمه دور بود
لب تشنگی ز راه دگر برده ایم ما

ډیلس، امریکا متحده ایالتونه

۷ جون، ۲۰۲۶ز

جاوید

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish



له deenodanish.com خخه بښکته شوی Deen-o-Danish

زمونږ دعوت

دین د الله تعالی هدایت دی چې لومړی یې د انســـان په فطرت کې الهام کړی دی او بیا یې له خپلو ټولو اړینو تفصیلاتو سره د خپلو پیغمبرانو په لاس انســانانو ته ورکړی دی. د دې ســلســلې وروســتی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی. همدا ده چې د دین یوازینی ماخذ اوس د رسول الله صلی الله علیه و سلم با صفاتو ذات دی او حق دین اوس هماغه دی چې رسول الله په خپل قول او فعل او تقریر او تصویب د دین په حیث په ګوته کړی دی. [1]

مونږ د دنیا ټولو خلکو ته په دې دین باندې ایمان او د هغه مطابق د خپل انفرادي او اجتماعي ژوند د تزکیې دعوت ورکوو. هغه خلک چې دا دعوت قبول کړي، د هغوی اجر د خدای جنت دی، هغه چې وسعت یې د ټول کاینات وسعت دی؛ هغه چې له ژوند سره د مرګ، له لذت سره د درد،

[1] الجمعه ۲:۶۲.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له خوښي سره د غم، له اطمينان سره د اضطراب، له راحت سره د تکليف او نعمت سره د نقمت هېڅ تصــور په کې نشــته، هغه چې ارام يې تلپاتې دی، لذت يې بې انتها دی، هغه چې شــپه او ورځ يې جاويدان دي، هغه چې ســلامتي يې ابدي ده، هغه چې مسرــت يې لافاني دی، هغه چې جمال يې لازوال له او کمال يې بې نهايته دی. الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره په دې جنت کې هغه څه برابر کړي چې نه ســترګو ليدلي دي، نه غوږونو اورېدلي او نه د انسان په زړه کې کله د هغه خيال تېر شوی. [2]

هغه خلک چې اوس وخت کې د دې دين منونکي دي، مور هغوی ته دعوت ورکوو چې د خدای د دې جنت د ترلاسي لپاره دې خپل عمل هم له ايمان سره سم برابر کړي، د خدای او بندګانو حقونه دې په پوره ديانت او پوره اخلاص سره په ځای کړي او د هيڅا د ځان او مال او ابرو په خلاف دې هېڅ ډول تېری نه کوي. [3]

مور دوی ته دعوت ورکوو چې په خپل ماحول او د خپل کار په دايره کې دې يو بل ته د ښــېګڼې نصــيحت وکړي او له بديو دې يې راوګرځوي. دا په دوی فرض دی چې د دوی رب دوی ته ور له غاړې کړی دی. دا فرض به پلار د خپل زوی لپاره او زوی د خپل پلار لپاره، مېړه د خپلې مېرمنې

---

[2] الاعلی۸۷:۱۴-۱۷.

[3] النحل۱۶:۹۰.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لپاره او مېرمنه د خپل مېړه لپاره، ورور د خپلې خور لپاره او خور د خپل ورور لپاره، ملګری د ملګري لپاره او ګاونډی د ګاونډي لپاره، لنډه دا چې هر شـخص به يې د خپل اړوند شـخص لپاره سرته رسـوي. نو هر چېرته چې دوی وګوري چې د دوی په پېژندلوو کې کوم چا له حق سره خلاف طريقه غوره کړې ده، نو پکار ده چې د خپل علم او خپل استعداد او صلاحيت له مخې هغه ته د سم روش د خپلولو نصيحت وکړي. [4]

که د دين او دنيا په چاور کې يې خپل جذبات، تعصـبات، ګټې او خواهشـات د انصـاف له لارې راګرځوي، نو په حق او انصـاف پاتې شي، بلکې که دوی د شـاهدي غوښـتنه وکړي نو له خپل ژوند نه هم ورته تېر شي او د هغوی دا غوښـتنه بايد پوره کړي. حق دې ووايي، د حق په وړاندې دې خپل سر ټيټ کړي، د انصاف شاهدي دې ورکړي او په خپله عقيده او عمل کې دې بې له انصافه هېڅ کله کوم څه نه غوره کوي.

که دوی د مذهبي جبر (persecution) هدف وګرځول شي، نو د تشـدد په ځواب کې دې د تشـدد د تګلارې په ځای صـبر وکړي [5] او که امکان يې وي نو په کوم ځای کې چې دا ډول وضـعيت راشي، نو هغه ځای دې

[4] التوبة۹:۷۱.

[5] النساء۴:۱۳۵. المائده۵:۸.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پرېږدي او يوه داسې ځای ته دې کډه وکړي، چې هلته په ښکاره په خپل دين عمل وکولی شي.

د فراهي مدرسې لويو علماوو د خدای په توفيق سره حق دين په اوسني عصر کې د فقهې و کلام او فلسفې و تصوف له هر ډول اميزشن نه بېل کړی او بې له کمي او کاستي او د سوچه قرآن او سنت په بنياد وړاندې کړی دی. د دې دين نشر او اشاعت، د هغه مطابق د خلکو تعليم او تربيه او د دې دين په رڼا کې د مسلمانانو د مذهبي فکر بيارغونه ستر جهاد دی. مور دوی ته دعوت ورکوو چې په خپل تائيد، خپل وخت او خپلو وسايلو سره دې په دې جهاد کې له مور سره مرسته وکړي. دا د خدای د ربښتوني دين نصرت دی چې له دې ماسوا هېڅ شی هم بايد مؤمن بنده ته محبوب ونه اوسي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ. (الصف ٦١: ١٤)

ژباړه: اې مؤمنانو د الله (د دين) مرستندويان شئ، لکه د مريمې زوی عيسیٰ ـ چې خپلو خاصو ملګرو ته وويل: د الله په لار کې څوک زما مرستيالان دي؟ ملګرو يې وويل: مور د الله (د دين) مرستندويان يو.



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په خدای ایمان

انسان مخلوق دی. د مذهب مقدمه د همدې حقیقت له ادراک نه سرچینه اخلي. دا یو وجودي حقیقت دی، چې مور یې هرکله مشاهده وغواړو، په خپلو سترګو یې مشاهده کولی شو. مور په دې پوهېږو چې د انسان تخلیق له کومو بې ساه عناصرو څخه کېږي. زمور د غذا له لارې دا عناصر چېرته او کومې فابریکې (factory) ته ځي. مور ته معلومه ده چې په دې کې نه انساني تخم وي او نه داسې څه وي چې ماده په ژوند او ژوند په شعور بدل کړي. خو همدا غذا چې کله یوه خاص مقام ته ورسېږي نو په نطفه باندې بدله شي، چې په خپل ځان کې داسې تخم لري چې د انسان جوړونې له صلاحیت څخه برخمنه وي. دغه تخم په هغه نطفه کې د میلیون او بیلیون په شمېر کې موجود وي، چې په یوه وار کې له نارینه څخه وځي، او هر تخم یې دا صلاحیت لري چې د نېځي له تخمې سره یو ځای شي، چې دا تخمه هم په همدې طریقه په یوه بله فابریکه (factory) کې جوړېږي، او په دې ډول یو بشپړ انسان تخلیق شي. مور لیدلی شو چې کله دغه تخم له تخمې سره یو ځای کېږي نو په ابتدا کې یو دومره کوچنی څیز رامنځته کېږي چې له مایکروسکوپ پرته په سختۍ سره د لیدو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وړ وي، خو همدا ناڅيزه غوندې شی په نهو میاشتو او څو ورځو کې د اوبو له یوه څاڅکي نه د وینې په ټوټه، له وینې نه په غوښه، له غوښې نه په هډوکو او بیا په غوښه پوښل شویو هډوکو سره په یوه بل شي بدلېږي او د مور له نس نه دباندې راوځي تر څو په خپلو حیرانوونکو ځواکونو او صلاحیتونو د علم و استدلال، د عقل و پوهې او فن و هنر هغه کمالات ښکاره کړي، چې اوسمهال د دنیا په هره ګوښه کې لیدل کېدی شي.

مور دا مخلوق وینو او د خپل شعور د جوړښت له مخې مجبور یو چې د دې مخلوق په خالق پسې وګرځو. د دې لپاره نه چې هر شی باید خالق ولري، بلکې د دې لپاره چې هر مخلوق باید خالق ولري. او اصلاً همدا د خلق فعل دی، چې مور دې لټون ته مجبوروي. مور له دې اضطرار سره یو ځای پیدا شوي یو، نو هېڅ کله په دې نه شو راضي کېدی چې د اثر لپاره د مؤثر او د فعل لپاره د فاعل له لټون نه لاس واخلو. د فلسفې، ساینس او تصوف لوی خلک یو، یو در وګورئ، یو هم په دې نه دی توانېدلی چې له دې لټون نه لاس واخلي. همدا ده چې د علم ټول تاریخ د همدې حقیقت د اعتراف تاریخ دی چې هر مخلوق خالق لري، انسان مخلوق دی، نو انسان هم خالق لري.

بیا فقط همدا نه، مور پوهېږو چې د خلق کوم فعل مور په خپلو سترګو مشاهده کړی دی، هغه ارادي دی او په یوه، یوه جز کې یې ناپایه قدرت او بې مثاله علم و حکمت ښکاره کېږي. هغسې چې مور د خلق انکار نه شو کولی، په همدې ډول مور د فعل له دې نوعیت نه هم انکار نه شو کولی. ځکه چې د فعل دغه نوعیت هم هماغسې یو حقیقت دی لکه د خلق فعل چې یو حقیقت دی. مور چې په څه ډول د فعل مشاهده کوو، په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

همدې ډول دغه حقیقت هم مشاهده کوو، نو مونږ مجبور یو چې په خوا کې یې دا اعتراف هم وکړو چې د انسان خالق د ارادې خاوند دی، قدرت یې ناپایه دی، او علیم او حکیم دی.

د انسان عقل، دی تر دې ځایه رارسوي او په دې سفر کې له خارج نه هېڅ لارښوونې ته اړتیا نه لري. د علم او ادراک هغه صلاحیت چې انسان ته د هغه له پیدایښت سره یو ځای ورکول شوی دی، هماغه په دې سفر کې د ده د لارښوونې لپاره کافي دی. خو له دې نه وړاندې دا سوال چې هغه خالق څوک دی؟ د دې ځواب د انسان عقل په همدې قطعیت او یقین او ډاډ نه شي ورکولی. همدا ده چې بالعموم هغو دوو ځوابونو ته یې سترګې اوړي چې د انسانیت په ټول تاریخ کې تر دې دمه ورکول شوي دي او بیا یا د ځان لپاره له دې دوو نه یو ځواب غوره کوي او یا د دواړو په منځ کې په شک او تردد کې پاتې کېږي.

لومړنی ځواب دا دی چې انسان د کوم کاینات په غېږه کې د شعور سترګه خلاصوي، هماغه کاینات د ده خالق دی. دا د الحاد ځواب دی.

د دې خبرې تشریح بالعموم په دې ډول کېږي چې کاینات خپل شعور لري، نو هغه ځواک هم پخپله په کاینات کې شته، چې د حقیقت په لحاظ خلاّق (پیدا کوونکی) دی. له کاینات نه بهر هېڅ هم نشته، بلکې د دننه او بهر وېش هم پخپله په کاینات کې دی. د کاینات هره برخه په خپل ځان کې دننه هم ده او دباندې هم. کاینات د علت او معلول کارخونه ده، خو په خپل کلي حالت کې خپل وروستی علت هم پخپله همدی دی.

دا ځواب مازې ادعا ده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اولاً، ځکه چې په دې کاینات کې چې د کومې خودشعوري دعوا شوې ده، د هغه هېڅ شواهد زمونږ په مشاهده کې کله نه دي راغلي. مونږ پوهېږو چې د کاینات حقیقت ماده ده، او ماده له ارادې نه خالي ده، له علم او عقل نه هم خالي ده. دا شیان په یوه نه یوه درجه کې که چېرته موندل کېږي هم، نو په هماغه مخلوق کې موندل کېږي، چې دا کاینات یې خالق بلل شوی دی. بیا فقط همدا نه، هغه قدرت هم که په یوه درجه کې چېرته وي، نو په همدې مخلوق کې دی، چې بې له هغه علم او عقل او اراده ټول بې معنا کېږي.

ثانیاً، ځکه چې د کاینات کوم ځواک چې تخلیق ګڼل شوی دی، هغه یوازې د شي خواص او د هغه اغېزې دي. دغه ډول ځواک مونږ د هغو خودکارو ماشینونو په پرزو کې هم لیدلی شو، چې انسان ایجاد کړي دي، او د مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence) په صورت کې یې اوس د کمال انتها هر انسان په حیرت کې غورځولی دی.

ثالثاً، ځکه چې د دې کاینات کلیت هم که وي، نو د هماغو تاثیراتو او خواصو کلیت دی، چې د علت او معلول اړیکې یې په کې پیدا کوي. دغه کلیت د تخلیق په هغه فعل پورې هېڅ تعلق نه مومي، چې په هر هر پړاو کې د علم او عقل او ارادې او د فعل د ځواک تقاضا کوي. دا علت او معلول، د روشونو او قوانینو دنیا ده، له دې نه زیات یې هېڅ حیثیت نشته.

د انسان خالق څوک دی؟ د دې سوال دویم ځواب هغو خلکو ورکړی دی، چې خپل ځان د پیغمبر په حیث وړاندې کوي. انسان ته دا ځواب د هغه له تخلیق سره یو ځای ورکول شوی و. همدا ده چې لومړنی انسان چې په څه ډول لومړنی انسان و، په همدې ډول لومړنی پیغمبر هم و. د دې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ځواب تفصیلات چې وروسته زمونږ په علم کې راغلي دي، د هغو خلاصه دا ده چې د انسان خالق له دې کاینات نه ماورا یو علیم او حکیم ذات دی. د انسان د تخلیق ابتدا دې ذات د مځکې له ګډې نه کړې وه. د خاورې هغه اجزا چې د خوړو په صورت کې زمونږ وجود ته داخلیږي او د حقیرو اوبو په ډول هغه بهیر پیلوي چې انسانان ورنه جوړیږي، همدا اجزا په ابتدا کې په سوځېدلې خټه کې له همدې عمل نه تېر شوو، تر دې چې کله یې خِلقت پوره شوو، نو له پاسه همدا خټه وچه شوه او د کرپندوکي غوندې کړنګېدونکې خاوره شوه او د همدې خاورې په ماتېدو یو ژوندی زړندی مخلوق راڅرګند شو چې د انسان حیواني وجود باید ورته وویل شي. بیا همدا عمل چې په مځکه کې شوی و، له علم او ادراک نه محروم په دې ناتراشلي حیوان کې هم پیل شو، له هغه وروسته له هر لحاظ نه دا حیوان برابر او له نوک نه تر سر پورې سم کړای شو، تر دې چې دی د دې جوګه شو چې د انسان شخصیت ورکول شي، همدا وه چې د یوه لطیف پوکي له لارې ده ته دغه شخصیت ورکول شو:

الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ الإِنسَانِ مِن طِينٍ. ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ مِن سُلاَلَةٍ مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ. ثُمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالأَبْصَارَ وَالأَفْئِدَةَ قَلِيلاً مَّا تَشْكُرُونَ.

ژباړه: هماغه چې ډېر ښـــه یې جوړ کړي څه یې چې پیدا کړي او د انسان پیدایښت یې له خټې پیل کړی. بیا یې د هغه ځوځات د بې کاره اوبو له نچوړ نه راچلولی دی. چې بیایې ســـم برابر کړ او له خپلې روح نه یې پوکی په کې وکړ او تاسې ته یې د اورېدو، لیدو (قوتونه) او (فکر کولو) زړونه درکړل (خو) تاسو ډېر لږ شکر باسئ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دا ځواب په وروســتي ځل چې په کومه ذریعه ورکول شــوی دی، هغه همدا قرآن دی، چې ایتونه یې پورته نقل شــوي دي. دا کتاب چې د کوم ذات له لوري وړاندې شــوی دی، د هغه دعوه ده چې دا د کوم بشرــ نه، بلکې د خالق خپل کلام دی، چې هغه په خپل پیغمبر نازل کړی دی، او څنګه یې چې نازل کړی دی، ده له کمي او کاســتي پرته هماغســې خلکو ته اورولی دی. په دې کې یې د یوه حرف، یوې ذرې تبدیلي نه کړې ده او نه به وروســته تر قیامته پورې څوک دا جرأت وکړي. همدا ده چې فرمایلي دي چې که تاســې یې د خدای کتاب نه ګڼئ نو د خپل هدایت، مضامینو او د بیان د اسلوب له پلوه چې دا کلام په کومه مرتبه کې دی، د همدې مرتبې یوازې یو ســورت راجوړ کړئ، که تاســې په خپل دې ګمان کې رښتیني یاستئ:

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ.

ژباړه: او که په هغه څه کې شکمن یاست چې موږ پر خپل بنده نازل کړي نو د هغه په شــان یو ســورت خو راوړئ، او د الله نه پرته خپل مرستیالان هم راوبلئ، که رښتوني یاست.

په قرآن کې دغه دعوه له یوه نه زیاتو ځایونو کې راغلې ده، او په خوا کې یې یو خورا واضح معیار هم ایښودل شوی دی، چې د هغه په اساس موږ دا پربکړه کولی شو چې قرآن په رښتیا د خالق کلام دی یا کوم انسان له خپله ځانه خالق ته منسوب کړی دی؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هغه معیار څه دی؟ موږ یې د لاندې درې نکتو په ډول راوړلی شو:

لومړی دا چې انسان چې هر علم ایجادوي، د لفظ او معنا، د دواړو په لحاظ د سعي او خطا (Trial and Error) له ګڼو مراحلو وروسته یې ایجادوي. دی نه په لومړي ورځ سقراط او افلان وي، نه غالب او شکسپیر او نه نیوټن او اینسټاین. همدا ده چې دی زدکړه کوي، ځان پوهوي او د زدکړې او پوهې په هر پړاو کې تېروتنې کوي او د هغو تېروتنو اصلاح هم کوي. موږ له کلونو نه ګورو چې دی یې له تېرو نسلونو اخلي، د هغه مشق او تمرین کوي، کچ و مېچ یې ور برابروي او درجه په درجه مخکې ځي، تر دې چې د علم او ادب یو شهکار د ده له لوري وپنځېږي. دا د انسان تقدیر دی. دی له همدې سره پیدا شوی دی. د علم او ادب په ټول تاریخ کې هېڅ کله په دې برخه کې استثنا نه ده لیدل شوې او نه یې وړاندې تصور کېدلی شي.

خو قرآن له دې نه مستثنی دی. دا کتاب چې د کوم ذات له لوري وړاندې شوی دی، هغه د څو سوه کورونو په یوه واړه کلي کې خپل قوم څلوېښت کاله شپه او ورځ په خپلو سترګو لیدلی دی، د هغه ورځې او شپې د هغوی د سترګو په وړاندې تېرې شوې دي، خو هغوی هېڅ کله نه دي لیدلي چې د دغه ډول علم او وینا لپاره چې د سعي او خطا کوم مراحل د هر انسان لپاره ټاکلي دي، د هغو ان یوه ذره دې هم کله د هغه په شخصیت کې لیدل شوې وي. دا حقیقت دی چې هغوی هېڅ په دې باور نه کاوه چې د دوی د کلي دغه صادق او امین د دغه ډول علم او د دغې مرتبې د کلام خالق کېدی شي. همدا وه چې هغوی به په غوسه کې دا

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خبره کوله چې دا ټول ده ته یوه لوستي عجمي ور لیکلي دي. قرآن همدې ټکي ته توجه کړې ده او فرمایلي یې دي:

قُل لَّوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُم بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ. فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ.

ورته وایه: که الله غوښتي وای نو ما به (دا قران) نه و درباندې لوستی او نه به الله پرې خبر کړي وئ، زه خو له دې مخکې هم په تاسو کې ډېر اوسېدلی یم ایا نو له عقله کار نه اخلئ. نو تر هغه لوی ظالم به څوک وي چې په الله پورې څه دروغ تړي، یا یې ایتونه دروغ ګڼي؟ یقیناً مجرمان نه بریالي کیږي.

مدعا دا وه چې وا احمقانو، تاسې کوم وخت لیدلي دي چې ما دې په هغو مباحثو کې دلچسپي اخیستي وي، یا مې د هغو په باره کې خیالات او افکار څرګند کړي وي یا مې د هغو د ترتیب او تدوین لپاره په مشق او تمرین کې وخت تېر کړی وي یا مې د هغو اړوند د کوم علم یا فن په زدکړه لاس پورې کړی وي، چې اوس د قرآن په سورتونو کې مسلسل تر بحث لاندې راروان دي؟ ما پوره څلوېښت کاله په تاسې کې تېر کړي دي، زما په خبرو او زما په کړو وړو کې تاسې کله داسې څه محسوس کړي چې هغه ته دې د دې دعوت پیلامه وویل شي، چې دا اوس یې وړاندې کوم؟ هغه څه چې زه یې نن وایم، د هغه د ودې او ارتقا کومې نښې تاسې زما په ژوند کې کله لیدلې دي؟ تاسې پوهېږئ چې انساني ذهن د خپل عمر په هېڅ پړاو کې داسې هېڅ شی نه شي وړاندې کولی چې د هغه د ودې او ارتقا نښې یې په مخکینیو پړاوونو کې نه وي؟ تاسې وایئ چې زه په خپل خدای پورې دروغ تړم، نو ایا پخوا مو د کوم دروغ، فریب، جعل یا چالاکي او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عیاري ان یوه وړه ذره هم زما په سیرت او کردار کې لیدلې ده؟ تاسې تر ننه پورې زه صادق او امین ګڼلم. اوس څنګه وایئ چې هماغه صادق او امین په شپه، شپه کې په ځان غلط، خبرې سازوونکی او افترا ویونکی ګرځېدلی دی؟ د خدای بندګانو، له عقل نه ولې کار نه اخلئ؟

بله دا چې د انسان علم هېڅ کله له تضاداتو څخه خالي نه شي کېدی. د **تراشیدم، پرستیدم، شکستم** هغه داستان چې له لومړۍ ورځې یې دی په لیکلو لاس پورې کوي، هماغه داستان تر پایه دوام کوي. دا هم، که غور وکړئ، د هماغه سعي او خطا پایله ده، چې شاته یې یادونه وشوه. بیا فقط همدا نه، د ده دا علم که کله د ادب جامه په تن کړي، نو په هغه کې هم همدا حالت راپیدا کېږي. د هغه پنځونې چې په دقت سره وګورئ، نو نظم، بلاغت، معاني هر څه به یې متفاوت ومومئ. د ده کلام به په یوه ځای کې د حسنِ بیان معجزه په نظر درځي او په بل ځای کې به تر هغه ډېر راټیټ، بلکې بې معنا تر سترګو کېږي. نو دا حقیقت دی چې په دنیا کې هېڅ کله داسې انسان نه دی تېر شو، چې د فصاحت او بلاغت په لحاظ دې یې د اعجاز حد ته رسېدلې وینا په متنوعو موضوعاتو او مختلفو حالاتو کې مسلسل کړې وي، او له سره تر پایه پورې یې چې کله دا وینا ترتیب شي، نو د کلام داسې همرنګه او هم‌اهنګه مجموعه دې تړې وپنځېږي چې نه دې په کې د خیالاتو کوم تصادم وي، نه دې د متکلم په زړه او ذهن کې د راټوکېدونکو کیفیتونو کوم څرک ولیدل شي او نه په کې د نظر او لیدلوري د بدلون کومې نښې لیدل کېدی شي.

له دې ټولو نه هم، که کومه استثنا شته، نو هغه یوازې قرآن دی، همدا ده چې فرمایلي یې دي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا. (النساء ۴: ۸۲)

ژباړه: نو ایا دوی قران ته نه ځیر کېږي؟ او که هغه (قران) د غیرالله له خوا وای نو خامخا به یې ډېره ګډوډي پکې موندلې وه.

استاد امام امین احسن اصلاحي لیکي:

«... د قرآن هره خبره په خپلو اصولو او فروعو کې دومره مستحکمه او مربوطه ده چې د ریاضي او اقلیدس فورمولونه هم دومره مستحکم او مربوط نه شي کېدی. قرآن چې د کومو عقایدو ښوونه کوي، هغه له یو بل سره داسې تړلي او پیوست دي چې له هغو نه که یو هم جلا کړئ، نو ټوله لړۍ ورسره درې وړې کېږي. چې د کومو عبادتونو او طاعتونو امر کوي، هغه له هغو عقایدو نه داسې راپیدا کېږي، لکه د ونې له تنې نه چې څانګې راټوکېږي؛ چې د کومو اعمالو او اخلاقو بلنه کوي، هغه له خپلو اصولو نه داسې رابودېږي لکه له یوه شي نه چې د هغه طبیعي او فطري لوازم بودېږي؛ د دې کتاب له مجموعي تعلیم نه چې د ژوند کوم نظام جوړېږي، هغه د یوه داسې بنیانِ مرصوص (کلکې ودانۍ) په څېر څرګندېږي چې هره تیږه یې له بلې تیږې سره داسې نښتې وي چې له هغو نه د یوې هم بېلول له دې پرته ممکن نه دي چې په ټوله ودانۍ کې خلا پیدا شي.»

(تدبر قرآن ۷۴۳/۲)

دریمه دا چې د انسان علم هېڅ کله سراسر حق نه وي. په هغه کې همېشه د حق په خوا کې د باطل ګډوله هم وي. همدا ده چې ده لا له دنیا څخه سترګې نه وي پټې کړې چې د ده د علم، معلوماتو، استنباط او استدلال او اټکلونو تېروتنې یوه، یوه رابرسېره شي. د سقراط او افلان،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نیوټن او اینسټاین، هر یوه برخلیک همدا دی. هیڅا ته له دې نه ټېښته نشته. د علم او ادب په ټول تاریخ کې په هېڅ ځای او هېڅ دور کې هېڅ شخص له دې څخه مستثنی نه دی لیدل شوی. مگر قرآن په دې معامله کې هم یوه حیرانوونکې استثنا ده. همدا ده چې شاوخوا پنځلس سوه کاله تېر شوي او دی لا هم د ازمایښت لپاره ولاړ دی، خو د هېڅ لوی فلسفي، حکیم او ساینسپوه لپاره دا نه ده ممکنه شوې چې د دې کتاب یوه خبره هم غلطه یا یې کومه لاړښوونه باطله ثابته کړي. له تېرو درې پېړیو څخه دنیا له کوم ځای نه کوم ځای ته ورسېده، مگر په دې ټول سفر کې هېڅ داسې حقیقت نه دی کشف شوی، چې د قرآن کریم له وړاندې کړو حقایقو سره دې ټکر ولري، هېڅ علم د قرآن د بیان کړي علم تردید نه دی کړی، هېڅ تجربه او مشاهده داسې نه ده شوې، چې هغه لاړښوونه دې غلطه وښیي، چې قرآن له خپله ځانه د یوه مقصد لپاره انسان ته ورکړې وي. قرآن چې څه ته حق وایي، هغه هېڅ کله نه دي باطل شوي او څه ته چې باطل وایي، هغه هېڅ کله حق نه دي ثابت شوي. د قرآن په باره کې دا حقایق اصلاً د تردید وړ نه دي. د قرآن وینا ده:

وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ. لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ.
-(حم السجده ۴۱: ۴۱-۴۲)

ژباړه: حال دا چې دا یو ډېر قوي کتاب دی. چې هغه ته باطل نه له مخې ورتلای شي نه له څټه یې، د حکمت والا ستایل شوي (خدای) له لوري نازل شوی دی.

دا هغه معیار دی چې د هغه له مخې د خپلې رښتینولۍ له ثابتولو وروسته قرآن انسان ته ښودلي دي چې هغه کاینات چې ته یې په غلطي سره خپل

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خالق ګڼي، هغه هم د هغه چا مخلوق دی، چې ستا خالق دی. ته نه ګورې چې په دې دنیا کې هر شی د حسنِ تخلیق معجزانه اظهار دی، په هر شي کې بې بریده معنویت دی، غیرمعمولي اهتمام دی، حکمت، تدبیر، منفعت او حیرانوونکی نظم او ترتیب دی، د نهایت درجې موزونیت دی، بې پایه توافق دی، بې مثاله اقلیدس او ریاضي ده، هغه چې بې له دې یې هېڅ توجیه نه شي کېدی چې دا کاینات هم هماغه علیم او حکیم ذات تخلیق کړی دی، چې ته یې تخلیق کړی یې. هماغه چې مځکه یې ستا لپاره زانګو او غرونه یې په کې مېخونه ګرځولي دي، تاسې یې د جوړو په شکل پیدا کړي یاستئ او ستاسې خوب یې ستاسې لپاره د ارامتیا سبب، شپه یې لباس او ورځ یې د روزګار وخت ګرځولی دی، په تاسې یې اوه محکم اسمانونه پیدا کړي او په هغو کې یې یو روښانه څراغ ځلولی دی. هماغه چې له ډکو وربځو نه یې ګڼ بارانونه ورولي او له هغو نه یې ښېرازي او غلې او ګڼ باغونه رازرغون کړي دي:

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ. هُوَ اللَّهُ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلاَمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ. هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَ الأَرْضِ وَ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ. (الحشر ۵۹: ۲۴-۲۲)

ژباړه: الله هماغه دی چې له هغه پرته بل خدای نشته، د پټو او ښکارووو عالم دی، هماغه ډېر مهربان بخښونکی دی. دی هغه الله دی چې پرته له ده بل خدای نشته، باچا، ډېر سپېځلی، له ټولو نیمګړتیاوو پاک، امن ورکوونکی، ساتونکی، برلاسی، زورور او د لویي څښتن دی. له هغو خبرو الله لره پاکي ده چې دوی یې ورسره شریکوي. هماغه الله دی چې خالق، هست کوونکی، صورت ورکونکی دی. هغه لره ښه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نومونه دي څه چې په اسمانو او ځمکه کې دي، (ټول) د هغه پاکي وايي او هماغه برلاسی حکمتونو والا دی.

قرآن ویلي دي چې د دې خالق د ربوبیت اقرار داسې څه دی، چې له ازل نه د انسان په فطرت کې ایښودل شوی دی. د دې کتاب وینا ده چې دا حقیقت لومړی ځل د یوه ټرون او میثاق په ډول څرګند شوی و. د دې ټرون یادونه قرآن د یوه پېښې شوي واقعیت په حیث کوي. انسان دلته د امتحان لپاره استول شوی دی، د همدې لپاره دا پېښه د هغه له حافظې نه محوه شوې ده، خو د هغې پېښې حقیقت د هغه د زړه په پاڼه باندې نقش او د هغه د ذهن په پټو خانو کې پیوست دی، او دغه نقش هېڅ شی هم نه شي محوه کولی. همدا ده چې په ماحول کې کوم خنډ نه وي او انسان ته دا حقیقت ور یاد کړای شي نو انسان داسې په منډه ورته راځغلي لکه ماشوم چې خپلې مور ته ور ځغلي، په داسې حال کې چې ماشوم هېڅ کله خپل ځان د مور له ګېډې نه د راوتلو په وخت کې نه وي لیدلی، او په دومره یقین د هغې په لور ورځغلي لکه ده چې له ډېر پخوا نه پېژندله. دی محسوسوي چې د خالق دغه اقرار د ده د یوه فطري احتیاج د غوښتنې ځواب و چې د ده دننه موجود و. ده چې کله دغه ځواب ومونده نو د ده د روح نورو ټولو تقاضاوو هم د دې ځواب په خوا کې خپل ځای ومونده.

د قرآن وینا ده چې د انسان د باطن دغه شاهدي داسې قطعي ده چې تر کومه د خدای د ربوبیت تعلق دی، هر شخص فقط د همدې شاهدي په بنیاد هم د الله په حضور کې ځواب ویونکی دی. فرمایلي یې دي:

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَن تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ. أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

آبَاؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّن بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ. وَكَذَلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ.

ژباړه: او کله چې ستا رب د بنیادمانو له شاګانو د هغوی ځوځات راویستلی او هغوی یې پر خپلو ځانو شاهدان ګرځولي وو (او پوښتلي یې وو) ایا ستاسو رب نه یم؟ هغوی وویل: هو! رب مو یې، مور شاهدي وایو. (د دې لپاره) چې بیا د قیامت په ورځ ونه وایئ چې مور خو له دې ناخبره وو. یا دا ونه وایئ چې شرک خو زمور پلرونو مخکې (پیل) کړی وو او مور یې ځوځات وو له هغوی وروسته، ایا نو په هغه کار مو هلاکوې چې باطله عمل کوونکو کړی و. او همدغه شان په تفصیل سره ایتونه بیانوو، او ښایي چې هغوی راوګرځي.

همدا اقرار د دې کاینات روح دی. د انسان عقل په همدې اطمینان مومي او د ده سینه په همدې د رښا سرچینه ګرځي. همدا ده چې دی چیغه کوي چې **لاریب**، همدا الله دی، چې له نُور نه یې دا مځکه او اسمان رښا دي:

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونِةٍ لاَّ شَرْقِيَّةٍ وَلاَ غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُّورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاء وَيَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ.

ژباړه: الله د اسمانو او ځمکې نور (روښانونکی) دی، د هغه د نور مثال داسې دی لکه یوه روښه تاخچه کې چې ډبوه وي، ډبوه په یوه شیشه کې وي، شیشه هم داسې لکه یو ځلېدونکی ستوری چې (هغه ډبوه) د ښوون د کومې داسې برکتې ونې (له تېلو) بله شوې وي چې هغه نه ختیزه وي، نه لویدیزه نژدې وي چې تېل یې په خپله رښا وکړي که څه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هم اور نه وي ورته رسېدلی، (داسې چې) د رڼا دپاسه رڼا وي چاته چې د الله خوښه شي د خپل نور خواته يې لارښوونه کوي او الله خلکو ته (همداسې) مثالونه بيانوي او الله په هر شي ښه پوه دی.

استاد امام امين احسن اصلاحي ليکي:

«... دا اسمان و مځکه، بلکې دا ټول کاينات د هغه شخص لپاره د تيارو عالَم او تياره خونه ده، چې خدای نه مني يا يې مني، خو د خدای صفات او د هغه مقتضياتو ته غاړه نه ږدي. داسې شخص نه په دې پوهېدی شي چې دا دنيا له کومه راغلې ده او نه په دې پوهېدی شي چې د دې دنيا د جوړېدو مقصد او غايت څه دی؟ دی د خپل ځان په باره کې هم دا پرېکړه نه شي کولی چې د ده د وجود مقصد څه دی؟ په دې دنيا کې مطلق العنان او بې واګو اوښ دی او که پابند او محکوم بنده؟ مسؤل دی يا غير مسؤل؟ د ده لپاره څه خير دي او څه شر؟ د ظلم لاره غوره کړي او که د عدل تګلاره؟ صرف د خپلو ګټو او خواهشاتو پيروي وکړي او که کوم لوړ هدف وپالي؟ د همدې سوالونو په سم ځواب د سم او بريالي ژوند انحصار دی. خو هغه شخص چې خدای نه مني، هغه د دې سوالونو سم حل نه شي موندلی. دغه ډول شخص په تيارو کې د ړانده غويي غوندې ښکرونه وهي او بالاخره د هلاکت په کنده کې د خپلو کړو وړو انجام ته رسېږي. البته هغه شخص چې خدای د هغه له سمو صفاتو سره مني، هغه د دې کاينات ابتدا هم مومي او انجام يې هم ورته واضح شي. په ده د هغو ټولو سوالونو ځواب هم روښانه شي، چې د خدای نه منونکی يې هېڅ کله نه شي حل کولی. له همدې امله دا دنيا د هغه لپاره يوه تياره دښته نه پاتې کېږي، بلکې د ايمان په نور ورته هر شی وځلېږي او هر اړخ يې ورته روښانه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شي. دی چې هر قدم اخلي، د بشپړې ورځې په رڼا کې يې اخلي او چې په هر لوري ځي، د خدای د ایمان رڼا ورته رهنمايي کوي. همدا حقیقت په دې (آیت) کې واضح شوی دی چې د دې اسمان او مځکې نور الله دی. چا سره چې دا نور دی، هغه په رڼا کې او په صراط مستقیم دی. او څوک چې له دې نُور نه محروم دی، هغه د تیارو په عالم کې تیندکونه خوري او کوم بل څوک هغه ته رڼا نه شي ورکولی. **وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِن نُّورٍ.**» (تدبر قرآن ۴۰۹/۵)



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اصول او مبادي

موږ چې په دين څنګه پوه شوي يو، په هغه کې درې شيان د بنيادي اصولو حيثيت لري:

لومړی دا چې قرآن د حق او باطل لپاره ميزان او فرقان او د وحي د ټولې سلسلې لپاره «مُهَيمَن» دی. دا کتاب د دې لپاره نازل شوی دی چې د دين او شريعت په معامله کې د خلکو په مابين کې ټول اختلافات فيصله کړي او په پايله کې يې هغوی په سوچه حق ودربړي. قرآن خپل دا حيثيت په خپله بيان کړی دی، نو په دې بنياد د قرآن په باره کې چې کومې خبرې بايد د اصول په ډول ومنل شي، هغه دا دي:

اولاً، د قرآن متن بالکل متعين دی. دا هماغه کتاب دی چې په مصحف کې ثبت دی او د لويديځ له ځينو سيمو نه پرته د ټولې اسلامي دنيا په لوی اکثريت کې دا مهال تلاوت کېږي. دا تلاوت چې د کوم قراءت له مخې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کېږي، هغه ته «قراءت عامه» ويل کېږي. له دې نه پرته بل هېڅ قراءت نه قرآن دی او نه د قرآن په حيث وړاندې کېدی شي.

ثانياً، قرآن قطعي الدلالة دی. د دې معنا دا ده چې د قرآن الفاظ پوره وړتيا لري چې کله انسان د هغو لارښوونې ته غاړه کېږدي نو په پوره قطعيت سره يې هغې مدعا ته ورسوي چې دا الفاظ ورته راوړل شوي دي. دا يوازې د علم او تدبر کمی دی چې ځينې وختونه انسان په دې ادعا باندې په پوهېدو کې پاتې راځي. دا ادعا د قرآن په ژبې او د بيان په اسلوب پورې هېڅ تعلق نه مومي. قرآن د خپلې مدعا په بيانولو کې هېڅ کله قاصر نه پاتې کېږي.

ثالثاً، د قرآن هغه ټول ايتونه محکم دي چې د دې کتاب هدايت وربانديې ولاړ دی او متشابهات يې يوازې هغه ايتونه دي چې په هغو کې د اخرت له نعمتونو او نقمتونو څخه د يوه نعمت يا نقمت بيان د تمثيل او تشبيه په اسلوب کې شوی دی يا د الله صفات او افعال او زمور له علم او مشاهدې نه ماورا د خدای د عالَم کومه خبره د تمثيل په اسلوب کې بيان شوې ده. دا ايتونه نه نامعلوم دي او نه يې په مفهوم کې کوم ابهام شته. د دې ايتونو الفاظ هم د څرګندې عربي الفاظ دي او بې له کوم تردد نه يې مور په معنا باندې پوهېږو. البته مور په دې دنيا کې د هغو په حقيقت نه شو پوهېدی، خو دا چې دغه پوهېدنه يا نه پوهېدنه د قرآن په فهم پورې کومه اړيکه نه لري، د همدې لپاره مور د هغو شا نه نيسو.

رابعاً، له قرآن نه دباندې هېڅ خفي يا جلي وحي، ان د خدای هغه پيغمبر هم چې دا کتاب وربانديې نازل شوی دی، د دې کتاب په کوم حکم کې ادلون بدلون نه شي راوستی. په دين کې د هر شي د رد او قبول پرېکړه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

يوازې د قرآن د ښکاره ایتونو په رڼا کې کېږي. د ایمان او عقیدې هر بحث په همده شروع کېږي او په همده ختمېږي. هره وحي، هر الهام، هره القا، هر تحقیق او هره رایه د قرآن تابع ده. ابو حنیفه او شافعي، بخاري او مسلم، اشعري او ماتریدي او جنید او شبلي په ټولو د همده واکمني ده او د هغه په خلاف له دوی څخه د یوه هم کوم شی نه شي منل کېدی.

دوهم دا چې سنت د ابراهیمي دین هغه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له تجدید او اصلاح وروسته او له ځینو زیاتونو سره په خپلو منونکو کې د دین په حیث جاري کړی دی. قرآن ویلي دي چې د دې سنت لپاره رسول الله ص ته د ابراهیمي ملت د پیروي امر شوی و. دا روایت هم د هماغه ملت برخه ده. د ثبوت له پلوه په سنت او قرآن کې هېڅ فرق نشته. قرآن چې په څه ډول د صحابوو له اجماع او قولي او تحریري تواتر نه رارسېدلی دی، په همدې ډول سنت هم د هغوی د اجماع او عملي تواتر له لارې تر مورِ رارسېدلی دی او د قرآن په څېر په هر دور کې د مسلمانانو له اجماع څخه ثابتېږي. نو په دې باره کې د هېڅ بحث او نزاع لپاره ګنجایش نه پاتې کېږي.

دریمه دا چې دین اصلاً هماغه دی چې په قرآن او سنت کې بیان شوی دی. له دې نه ور اخوا هېڅ شی هم نه دین دی او نه دین ګرځول کېدی شي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول و فعل او تقریر و تصویب اخبارِ احاد چې بالعموم ورته «حدیث» ویل کېږي، له هغو نه په دین کې هېڅ عقیده او عمل نه زیاتېږي. په دین پورې اړوند هر څه چې په دې حدیثو کې راځي، هغه په حقیقت کې په قرآن او سنت کې د راغلي همدې دین د پوهاوي او وضاحت او په هغه باندې د عمل لپاره د نبي صلی الله

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

علیه وسلم د حسنه اسوې (غوره نمونې) بیان دی. د حدیثو دایره همدا ده. نو د دین په حیث له دې دایرې نه دباندې نه کوم شی حدیث کېدی شي او نه مازې د حدیث په بنیاد منل کېدی شي.

البته د دې دایرې دننه د حدیث حجت په هر هغه شخص لازمېږي چې د حدیث په صحت باندې مطمئن وي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول و فعل یا تقریر و تصویب په حیث یې ومني. له هغه وروسته بیا له هغه حدیث نه انحراف د ده لپاره روا نه دی، بلکې لازمي شي چې که د رسول الله کوم امر یا پرېکړه په هغه حدیث کې بیان شوې ده، نو د هغه په وړاندې د تسلیمي سر ټیټ کړي.



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

حق دین

د دین حقیقت که په یوه لفظ کې بیانوو، نو د قرآن په اصطلاح کې د الله «عبادت» دی. د کایناتو رب چې په دې دنیا کې له خپلو بندګانو اصلاً کوم څه غواړي، هغه همدا ده. فرمایلي یې دي:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ.(الذاریات ۵۱:۵۶)

ژباړه: او موږ پېریان او انسانان بل څه ته نه دي پیدا کړي پرته له دې چې ما ولمانځي.

قرآن کریم ځای، ځای په ډېر وضاحت بیان کړي چې د کایناتو خدای خپل پیغمبران له همدې حقیقت څخه د انسانانو د خبرولو لپاره استولي وو:

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ.(النحل ۱۶:۳۶)

ژباړه: او موږ هر ولس ته یو رسول ولېږه چې الله ولمانځئ او له باطلو معبودانو ځان وساتئ.

د دې «عبادت» معنا څه ده؟ که غور وکړئ، نو د نحل سورې په همدې آیت کې واضحه شوې ده. د الله د عبادت په مقابل کې دلته د طاغوت له پیروي نه د ځان ساتنې هدایت شوی دی. **الطّاغوت** او **الشیطان**، په قرآن کې بالکل په یوه معنا کې کارول شوي دي، یانې هغه څوک چې د خدای په وړاندې سرکښي، تمرد او استکبار غوره کړي. د دې ټولو ضد، ښکاره ده

Deen-o-Danish له deenodanish.com څخه ښکته شوی

چې عاجزي او پستي ده. نو د «عبادت» معنا لغت پوهان بالعموم داسې کوي چې «**أصل العبودية الخضوع والتذلل**،»[6] (عبادت په اصل کې عاجزي او پستي ده.) که دا شی د خدای د رحمت، قدرت، ربوبیت او حکمت له سم شعور سره پیدا شي، نو په خورا مینه او خورا وېره د هغه په وړاندې تر وروستي بریده د خپل ځان د غورځولو بڼه خپله کړي. خشوع، خضوع، اخبات، انابت، خشیت، تضرع، قنوت او داسې نور، دا ټول الفاظ په قرآن کې د همدې حقیقت د تعبیرولو لپاره کارول شوي دي. دا په اصل کې یو دروني کیفیت دی چې د انسان دننه پیدا کېږي او د هغه د وجود له درون نه غېږه چاپېروي. ذکر، شکر، تقوا، اخلاص، توکل، تفویض او تسلیم او رضا ـــ دا ټول د عبد او معبود ترمنځ د تعلق باطني بڼکارندې دي. د دې معنا دا ده چې بنده په دې تعلق کې د خپل رب له یاد نه ډاډ مومي، د هغه په لوړینو باندې په خپل ځان کې د هغه لپاره د شکر د جذباتو یو طغیاني سېلاب په څپو شوی ګوري، د هغه له خفګانه وېرېږي، په ټوله معنا د هغه شوی وي، د همغه په بروسې ژوند کوي، خپله هره چاره یې هغه ته سپارلې او خپل ټول وجود یې هغه ته حواله کړی او د هغه په هره پرېکړه راضي وي. د انسان په ظاهري وجود کې چې دغه تعلق په کومو بڼو بڼکاره کېږي، د هغو په باره کې د قرآن وینا ده:

---

[6] لسان العرب ۹/۱۰.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ. تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ. (السجده ۳۲:۱۵-۱۶)

ژباړه: خبره دا ده چې زموږ په ایتونو خو ایله هغه کسان باور کوي چې کله په هغو سره نصیحت ورته وشي نو په سجده پرېوځي او د خپل رب له ستاینې سره د هغه تسبیح وایي او لویي کول نه غواړي. اړخونه یې له بسترو نه جلا وي، خپل رب له ډار او هېلې سره رابولي او څه مو چې ور روزي کړي له هغو نه لګښت کوي.

دا رکوع او سجود، تسبیح او تحمید، دعا او مناجات او د خدای د رضا د ترلاسي لپاره د ځان او مال قرباني ـــــــ همدا اصلي «عبادت» دی. خو دا چې انسان په دې دنیا کې خپل عملي وجود هم لري، نو له خپلو دې ظاهري بڼو ور اخوا، دغه عبادت د انسان له عملي وجود سره هم تعلق پیدا کوي او په دې ډول د پرستش په خوا کې اطاعت هم په کې شامل شي. او په هغه وخت کې بیا له انسان نه غوښتنه کوي چې د ده باطن د کوم ذات په وړاندې ټیټ شوی دی، خپل ظاهر هم د هغه ذات په وړاندې ټیټ شي. ده چې له دروني پلوه ځان چاته سپارلی دی، په خارج کې هم د هغه حکم جاري شي، تر دې چې د ژوند هېڅ اړخ یې له ورنه مستثنی پاتې نه شي. په نورو ټکو کې ویلای شو چې په هر لحاظ د خپل رب بنده شي. فرمایلي یې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ. (الحج ۲۲:۷۷)

ژباړه: اې مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، خپل رب لمانځئ او د خیر کارونه کوئ، ددې دپاره چې بریالي شئ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د الله او بنده ترمنځ د عبد او معبود د دې تعلق لپاره چې کله دغه «عبادت» مابعدالطبیعاتي او اخلاقي بنسټونه په ګوته کوي، دودونه ترسره کوي او په دنیا کې د دې تعلق د غوښتنو د پوره کولو لپاره حدود او قیود ټاکي، نو د قرآن په ژبه کې دا ټول د «دین» په کلمه تعبیریږي. د دې دین کومه بڼه چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو له لارې انسانانو ته څرګنده کړې ده، قرآن هغه ته «الدِّین» وایي او د هغه په باره کې دوی ته هدایت کوي چې په خپل ژوند کې دغه دین بالکل سم او په خپل ژوند کې په پوره معنا ټینګ کړي او هېڅ اختلاف په کې وانه چوي.

د شورا په سورت کې دي:

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ. (الشوری ۴۲:۱۳)

ژباړه: تاسو ته یې هماغه دین ټاکلی (بیان کړی) چې په هغه سره یې نوح ته سپارښتن کړی و او هغه چې تاته مو وحي کړی او چې په هغه سره مو د ابراهیم، موسی او عیسی ته سپارښتن کړی و، چې (همدغه) دین ترسره کړئ[7] او اختلاف مه پکې اچوئ.

د دې «عبادت» لپاره چې کوم مابعدالطبیعي او اخلاقي بنسټونه د خدای په دې دین کې بیان شوي دي، هغه قرآن په «الحِکمَة» او د هغه مراسم او حدود او قیود په «الکِتاب»، یانې قانون سره تعبیروي.

---

[7] یانې په هر حال کې همدا دین ترسره کړئ. د اقامتِ دین سم مفهوم همدا دی. د تفصیل لپاره یې د جاوید احمد غامدي په «برهان» کتاب کې د «تاویل کی غلطی» مقاله وګورئ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وَأَنزَلَ اللهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا. (النساء۴:۱۱۳)

ژباړه: او الله پرتا باندې کتاب او حکمت را نازل کړی او هغه څه یې در ښودلي چې تاته معلوم نه و او پر تا د الله ډېر ستر فضل دی.

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِ وَاتَّقُوا اللهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ. (البقره۲:۲۳۱)

ژباړه: د الله نعمت دریاد کړئ او هغه څه یې چې له کتاب او حکمت نه پر تاسو نازل کړي په کوم سره چې تاسو ته نصیحت کوي. او الله نه وډار شئ او پوه شئ چې یقیناً الله په هر شي پوه دی.

دې «الکِتاب» ته قرآن «شریعت» هم وایي:

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِّنَ الأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ. (الجاثية ۱۸:۴۵)

ژباړه: بیا مو ته د دین په (څرګنده) لار ودرولې نو د هماغې تابعداري کوه او د هغو خلکو هوسونو پسې مه ځه چې نه پوهیږي.

«الحِکمة» له همېشه نه همدا یو دی، خو «شریعت» په ځینو وجوهاتو، راز، راز پاتې شوی دی. فرمایلي یې دي:

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً. (المائده۵:۴۸)

ژباړه: له تاسې نه هر یوه ته مو یو شریعت او تګلاره ټاکلې ده او که الله غوښتي وای، نو تاسو ټول به یې یو امت ګرځولي وای.

د الهامي لټریچر له مطالعې نه معلومېږي چې په تورات کې تر ډېره شریعت او په انجیل کې حکمت بیان شوی دی. زبور د همدې حکمت په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مقدمه کې د رب العالمین د ستاینې سرودونه دي او قرآن د دې دواړو لپاره یو جامع ادبي شهکار او د انذار او بشارت د صحیفې په حیث نازل شوی دی. د بقرې او نساء کوم ایتونه چې پورته راوړل شوي دي، په هغو کې د قرآن کریم په هکله دغه حقیقت په خورا څرګندو ټکو کې بیان شوی دی. د تورات او انجیل په باره کې الله تعالی له سیدنا مسیح علیه السلام سره په قیامت کې د خپلې یوې مکالمې په ترڅ کې فرمایلي دي:

وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ. (المائده۵:۱۱۰)

ژباړه: او چې تاته مې د کتاب، حکمت، تورات او انجیل ښوونه وکړه.

د «الحِکمة» تعبیر چې د کومو مباحثو لپاره غوره شوی دی، هغه له بنیادي پلوه دوه دي:

یو، ایمانیات؛

دوه، اخلاقیات.

د «الکِتاب» په برخه کې چې کوم مباحث بیان شوي دي، هغه دا دي:

۱- د عباداتو قانون. ۲- د ټولنې قانون. ۳- د سیاست قانون. ۴ـ مالي قانون. ۵- د دعوت قانون. ٦- د جهاد قانون. ۷- حدود او تعزیرات. ۸- خوراک و څښاک. ۹- رواجونه او اداب. ۱۰- قسم او د قسم کفاره.

همدا ټول دین دی. د خدای کومو پیغمبرانو چې دا دین راوړی دی، هغو ته «نبي» ویل کېږي. له قرآن کریم نه معلومېږي چې په هغو کې ځینې د «نبوت» په خوا کې د «رسالت» په منصب هم سرلوړي شوي وو.

«نبوت» دا دی چې له انسانانو یو شخص له اسمان نه وحي ترلاسه او خلکو ته حق بیان کړي او بیا د دې حق منونکو ته په قیامت کې د ښه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

انجام زېرى ورکړي او نه منونکي يې له بد انجام نه خبر کړي. قرآن کريم دا په «انذار» او «بشارت» تعبيروي:

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ. (البقرة ۲: ۲۱۳)

ژباړه: (ړومبى) ټول خلک يو امت (دين) وو بيا نو الله نبيان راولېږل چې زېرى ورکونکي او وېرونکي وو.

«رسالت» دا دى چې د نبوت په منصب باندې ناست شخص د خپل قوم لپاره په داسې ډول د خداى د عدالت په حيث راشي چې که قوم يې انکار ورنه وکړي نو د هغه قوم په باره کې د خداى پربکړه په همدې دنيا کې په هغوى پلې کړي او حق له عملي پلوه وربانديې غالب کړي:

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ. (يونس ۱۰: ۴۷)

ژباړه: (د هغه قانون همدا دى چې) د هر امت دپاره يو رسول وي نو کله چې رسول به يې ورته راغى د هغوى ترمنځ په انصاف سره فيصله کېدله او پر هغوى به ظلم نه کېدلو.

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ. كَتَبَ اللهُ لأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ. (المجادله ۵۸: ۲۰-۲۱)

ژباړه: کوم کسان چې الله او رسول سره يې دښمني کوي هغوى يقيناً په خوار شوو (سرټيټو) کې دي. الله ليکلي دي چې زه او زما رسولان به خامخا برلاسي کېږو، الله بې شکه ځواکمن برلاسى دى.

د رسالت همدا قانون دى چې له مخې يې خاص د نبي صلى الله عليه وسلم په باره کې د قرآن وينا ده:

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ.(الصف ٦١: ٩)

ژباړه: الله هماغه دی چې خپل رسول يې له هدايت او رښتيني دين سره لېږلی تر څو پر ټولو دينونو يې برلاسی کړي که څه هم مشرکان ناخوښه شي.

دا په داسې ډول کېږي چې الله تعالی دغه رسولان د خپلې جزا او سزا (دينونت) د ښکاره کولو لپاره انتخابوي او بيا له قيامت نه مخکې يو کوچنی قيامت د دوی په ذريعه په همدې دنيا کې رامنځته کوي. قوم ته خبرداری ورکول کېږي چې که دوی له خدای سره په خپل ميثاق باندې ټينګ پاتې شي نو د هغه جزا او که انحراف ورنه وکړي، نو د هغه سزا به په همدې دنيا کې ورکول شي. د دې پايله دا راوځي چې د رسولانو وجود د خلکو لپاره يوه الهي نښه وګرځي او هغوی ګواکې خدای له دې رسولانو سره يو ځای د مځکې په مخ ګرځنده او د عدالت د پلي کولو په حال کې ګوري. د دې په خوا کې هغوی ته امر کېږي چې د حق هغه نښانې چې دوی د خپل سر په سترګو ليدلې دي، د هغو په بنياد خپل قوم ته تبليغ وکړي او د الله تعالی هدايت له کمي او کاستي پرته او په پوره قطعيت سره تر خلکو پورې ورسوي. د قرآن د تعبير له مخې دا کار «شهادت» دی او کله چې دغه شهادت ټينګ شي نو په دنيا او اخرت دواړو کې د الهي پرېکړې لپاره يو بنسټ وګرځي. همدا ده چې الله تعالی دې رسولانو ته غلبه وبښي او د هغوی د دعوت په منکرانو خپل عذاب رانازل کړي. نبي صلی الله عليه وسلم ته په قرآن مجيد کې «شاهِد» او «شهيد» په همدې اساس ويل شوي دي. فرمايلي يې دي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولاً شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً. (المزمل ۱۵:۷۳)

ژباړه: بې شکه موږ تاسې ته (اې د مکې قریشو) هماغسې یو رسول پر تاسې د شاهد په توګه لېږلی لکه چې فرعون ته مو یو رسول لېږلی و. د شهادت دغه منصب په رسولانو سربېره د ابراهیم علیه السلام اولادې ته هم ورکول شوی دی. قرآن د همدې له مخې هغوی د خدای د رسول او د هغه د بندګانو ترمنځ یوه ډله «أُمَّةً وَّسَطًا» ګرځولي دي او ویلي یې دي چې د دې منصب لپاره هغوی داسې غوره شوي دي، لکه په بني آدم کې چې الله تعالی ځینې جلیل القدر شخصیتونه د نبوت او رسالت لپاره غوره کوي. فرمایلي یې دي:

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ. (الحج ۲۲:۷۸)

ژباړه: او د الله په لار کې ځنګه چې ښایي هغه شان جهاد وکړئ، هماغه تاسو (خپل کار ته) غوره کړي یاست او په دین کې یې پر تاسو څه تنګون نه دی راوستی، د خپل پلار ابراهیم په دین اوسئ هماغه (الله) تاسو ډومبی هم مسلمانان ونومولئ او په دې (قران) کې هم د دې دپاره چې رسول پر تاسو شاهد وي او تاسو پر خلکو شاهدان.

له نبیانو او رسولانو سره الله تعالی بالعموم خپل کتابونه هم نازل کړي دي. د کتابونو د نزول مقصد په قرآن مجید کې دا بیان شوی دی چې د حق او باطل لپاره میزان وګرځي تر څو خلک د هغو په مرسته خپل اختلافات فیصله کړي او په دې سره د حق په برخه کې په سم انصاف ودریږي. ارشاد دی:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ. (البقره ۲:۲۱۳)

ژباړه: او له دوی سره يې حقيقي کتاب راولېږه تر څو د خلکو ترمنځ په هغو خبرو کې فيصله وکړي چې دوی پکې اختلاف کولو.

وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ. (الحديد ۵۷:۲۵)

ژباړه: او هغوی سره مو کتاب او تله هم رانازل کړي تر څو خلک په انصاف ولاړ اوسي.

د نبوت او رسالت دا لړۍ په آدم عليه السلام پيل او په محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم پای ته ورسېده. د رسول الله له دنيا نه تلو وروسته د وحي او الهام دروازه د همېشه په مخه تړل شوې ده او نبوت ختم کړای شوی دی. [8] همدا ده چې په دين باندې د خلکو د درولو په خاطر به د «انذار» مسؤليت اوس تر قيامته پورې د دې امت علما سرته رسوي. د علماوو دغه مسؤليت د توبې په سورت کې په دې ډول بيان شوی:

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ. (۹:۱۲۲)

ژباړه: دا خو ممکنه نه وه چې ټول مؤمنان له يوې مخې (غزا ته) ووځي نو ولې د هغوی له هرې ډلې نه يو ټولی نه وځي تر څو په دين کې بصيرت بيا مومي او کله چې بېرته راستانه شي نو د خپل قوم خلک خبر کړي، د دې لپاره چې دوی هم (له ناروا) ځانونه وساتي.

[8] الاحزاب ۳۳:۴۰.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د دې انذار لپاره د الله تعالى هدايت دا دى چې د قرآن كريم په ذريعه دې وشي: د «فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ»[9] او د «وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا»[10] په ټكو كې قرآن كريم د همدې امر كړى دى.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د همدې له مخې د ټولې دنيا لپاره نذير دى او علماء په اصل كې همدا د رسول الله انذار تر نورو خلكو پورې رسوي: تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا.[11] همدا ده چې فرمايلي يې دي:

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ. (الانعام ٦: ١٩)

ژباړه: او دا قران ماته په وحي راغلى ترڅو هم تاسو پرې ووېروم او هم چاته چې ورسېد.

د دې دين نوم «اسلام» دى او په دې باره كې الله تعالى په خپل كتاب كې فرمايلي دي چې له بني آدم نه به له اسلام نه پرته بل هېڅ دين قبول نه كړي:

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ... وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ. (آل عمران ٣: ١٩، ٨٥)

---

[9] ق ٥٠: ٤٥ «نو هغه چاته په قران سره نصيحت كوه چې زما د عذاب له وعدو ډاريږي.»

[10] الفرقان ٢٥: ٥٢ « او په دې (قران) له هغوى سره جهاد كوه، ستر جهاد.»

[11] الفرقان ٢٥: ١ « هغه ذات بركتناك دى چې فرقان يې د دې دپاره نازل كړ تر څو د ټولو خلكو دپاره خبردارى وركونكى وي.

له deenodanish.com څخه ښكته شوى Deen-o-Danish

ژباړه: د الله په نزد دین یوازې اسلام دی... او هرڅوک چې له اسلامه پرته بل دین لټوي نو هېڅ کله به ترې قبول نه شي او هغه به په اخرت کې له تاوانیانو وي.

د «اسلام» لفظ چې په څه ډول د پوره دین لپاره کارېږي، همداسې د دین ظاهر هم ځینې وختونه په همدې «اسلام» لفظ سره تعبیرېږي. د خپل ظاهر په لحاظ اسلام دا لاندې پنځه شیه دي:

۱- د دې خبرې شاهدي ورکړل شي چې الله نه پرته بل معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رسول دی.

۲- لمونځ ترسره شي.

۳- زکات ورکول شي.

۴- د رمضان روژې ونیول شي.

۵- د بیت الحرام حج وشي.

قرآن کریم ځای ځای په دې تاکید کړی دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې دا ټول په یوه ځای کې داسې بیان شوي دي:

الاسلام أن تشهد أن لا اله الا الله و أن محمداً رسول الله، و تقيم الصلوة، وتؤتي الزكوة، وتصوم رمضان، وتحج البيت.

(مسلم، رقم ۹۳)

ژباړه: اسلام دا دی چې ته د دې خبرې شاهدي ورکړه چې الله نه پرته بل معبود نشته او محمد (صلی الله علیه وسلم) د هغه رسول دی او لمونځ ترسره کړه او زکات ورکړه او د رمضان روژې ونیسه او د بیت الحرام حج وکړه.»

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د دین باطن «ایمان» دی. د دې هغه تفصیل چې په قرآن کې راغلی دی، د هغه له رویه ایمان هم د پنځو شیانو نوم دی:

۱- په خدای ایمان

۲- په پرښتو ایمان

۳- په نبیانو ایمان

۴- په کتابونو ایمان

۵- د جزا په ورځې ایمان

د بقرې په سورت کې دي:

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ. (البقره ۲۸۵:۲)

ژباړه: رسول په هغه څه باور کړی چې د الله له خوا ورته نازل شوي او مؤمنانو هم، ټولو ایمان راوړی په الله، ملایکو یې، کتابو یې او رسولانو یې (دوی وایي چې) له رسولانو یې د یوه ترمنځ هم توپیر نه کوو او ویې ویل: اورېدلي او منلي مو دي، بښنه دې (غواړو) زمونږ ربه! او ستا په لور (ستنېدل) دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایمان بالله یوه فرع ـــــ د تقدیر خیر او شر ـــــ هم په دې کې شامل کړی او داسې یې فرمایلي دي:

الایمان أن تؤمن بالله، وملئکته، وکتبه، ورسله، والیوم الآخر، وتؤمن بالقدر خیره وشره. (مسلم، رقم ۹۳)

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ژباړه: ایمان دا دی چې په الله ایمان راوړې او د هغه په پرښتو، د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د اخرت په ورځې، او د خپل رب له لوري د تقدیر په خیر او شر باندې هم.

دا ایمان چې کله د خپل حقیقت په اعتبار زړه ته ښکته شي او له هغه نه خپل تصدیق حاصل کړي، نو پخپله له خپله ځانه د دوو شیانو تقاضا کوي:

یو، نېک عمل.

دوه، «**تواصي‌بالحق**» او «**تواصي‌بالصبر**».

وینا یې ده:

وَالْعَصْرِ. إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ. إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ. (**العصر ۱۰۳: ۱-۳**)

ژباړه: قسم دی په وخت، چې انسان خامخا تاوان کې دی. پرته له هغو کسانو چې ایمان یې راوړی، ښه کارونه یې کړي او یو بل ته یې دحق نصیحت او د صبر سپارښتن کړی وي.

له «نېک عمل» نه مراد هر هغه عمل دی چې د اخلاقي تزکیې په پایله کې پیدا کېږي. د دې ټول بنسټونه په عقل او فطرت کې ثابت دي او د خدای شریعت د همدې عمل په طرف د انسان د لارښودنې لپاره نازل شوی دی.

د «**تواصي‌بالحق**» او «**تواصي‌بالصبر**» معنا په خپل شاوخوا کې یو بل ته د حق او په حق باندې د درېدو سپارښتن کول دي. دا د حق د منلو بدیهي تقاضا ده چې قرآن کریم د «**امربالمعروف**» او «**نهي‌عن‌الممنکر**» نوم هم

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ورکړی دی، یانې هغه خبرې چې د عقل او فطرت له مخې معروف دي، خپلو نیږدې خلکو ته د هغو خبرو بلنه وشي او هغه چې منکر دي، له هغو نه خلک راوګرځول شي:

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ.(التوبة۹: ۷۱)

ژباړه: او مؤمنان او مؤمنانې یو د بل دوستان دي، د ښېګڼې امر کوي، له بدیو ایسارول کوي.

دغه راز دا هم اړینه ده چې که په دنیا کې کوم ځای اقتدار لاسته راشي نو په خپل منځ کې ځینې خلک د دې کار لپاره منظم وګمارل شي. ارشاد یې دی:

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ.(آل عمران۳: ۱۰۴)

ژباړه: او له تاسونه دې یوه داسې ډله (جوړه) وي چې دښېګړې لورته بلنه کوي، دنیکۍ امرکوي او له بدیو ایسارول کوي او داکسان همدوي بریالي دي.

دا مسؤلیت ښکاره دی چې په ځینو برخو کې به د تبلیغ او تلقین له لارې او په ځینو برخو کې د قانون په زور ترسره کېږي. [12] د لومړنۍ لارې لپاره د

[12] له دې نه هغه چارې مراد دي چې احکام یې د مسلمانانو ټولنې ته ورکول شوي دي. د دې برخلاف هغه احکام چې فرد ته د فرد په حیث ورکول شوي، د هغو معامله د خدای او بنده ترمنځ ده او په هغو کې دی د حکومت یا قانون په وړاندې نه، بلکې یوازې د خپل رب په وړاندې ځواب

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

جمعې منبر دی، چې د همدې هدف لپاره د حل و عقد د خاوندانو لپاره ځانګړی شوی دی، او د دویمې لارې لپاره د پولیسو محکمه ده، چې د مسلمانانو په حکومت کې د همدې مسؤلیت لپاره جوړېږي.

د ایمان دا تقاضا باید هر مسلمان د نُصح او خیرخواهي په جذبې پوره کړي. بې له دې جذبې د دین له سم روح سره دا مسؤلیت په هېڅ حال نه شي په ځای کېدی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

الدین النصیحة، لله، ولکتابه، ولرسوله، ولأئمة المسلمین وعامتهم. (مسلم، رقم ۱۹۶)

ژباړه: دین خیرخواهي دي، د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانانو د واکمنو لپاره، او د هغوی د ولس لپاره.

په عامو حالاتو کې د ایمان تقاضې همدا دي، خو انسان ته د خپل خارجي چاپېریال له مخې چې کوم حالات په دې دنیا کې ور پېښېدلی شي، د هغو له مخې په دې سربېره دري نورې تقاضاوې هم له ایمان نه پیدا کېږي:

یو، هجرت؛

دوه، نصرت؛

ویونکی دی. په دې ډول چارو کې له تعلیم او تربیې او تلقین او نصیحت نه وړاندې هېڅ حکومت واک او اختیار نه لري، مګر دا چې د یو چا د حق تلفي یا د ځان او مال او ابرو په خلاف د تېري اندېښنه وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

درې، په انصاف درېدل.

که د مؤمن بنده لپاره په یوه ځای کې د خپل رب عبادت ترسره کول د ژوند لپاره د خطر سبب شي، د خپل دین لپاره وځوروول شي، تر دې چې د خپل اسلام ښکاره کول هم ورته ممکن پاتې نه شي نو د ده ایمان ورنه دا تقاضا کوي چې هغه ځای پرېږدي او یوه داسې ځای ته کډه وکړي چې هلته علانیه په خپل دین عمل وکولی شي. قرآن دې ته «هجرت» وایي. د رسالت په زمانه کې چې کله د الله او د هغه د رسول له لوري نه نېغ په نېغه د هجرت دعوت ورکول شو نو له هجرت نه د ځان ویستونکو لپاره قرآن د جهنم وعید نازل کړ. د نساء په سورت کې دي:

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالُوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَـئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا. (۹۷:۴)

ژباړه: بې شکه هغوی چې ملایکې یې سا اخلي په داسې حال کې چې پر خپلو ځانو ظالمان وو، (ملایکې) ورته وایي په څه حال کې وئ؟ دوی به وایي مونږ په ځمکه کې کمزوري وو، ورته وایي ایا د الله ځمکه ارته نه وه چې هجرت مو پکې کړی وی؟ نو د دې خلکو استوګنځی جهنم دی او هغه د ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

دغه راز که دین ته د خپل خپراوي او حفاظت لپاره د اقدام اړتیا پېښه شي، نو د ایمان تقاضا ده چې د ځان او مال په مټ له دین سره مرسته وشي. د قرآن د تعبیر له مخې دا د الله رب العالمین «نصرت» دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې په مدینه کې د اقتدار له رسېدو وروسته د دې ارتیا پېښه شوه او خلکو د جهاد او قتال غوښتنه وکړه نو قرآن په یوه ځای کې خلکو ته په دې ډول د هغه بلنه ورکړه:

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ. تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ. يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ. وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ (الصف ٦١: ١٠-١٤)

ژباړه: اې مؤمنانو! ایا یوه داسې سوداګري دروښیم چې له دردناک عذابه مو وژغوري؟ (دا چې) په الله او د هغه په رسول به (کلک) ایمان لرئ او د الله په لار کې به خپلو مالو او ځانو سره جهاد کوئ. دا (ډېره) درته غوره ده که تاسې پوهېرئ. ستاسو ګناهونه به دروبښي او داسې جنتو ته به مو ننباسي چې ترې لاندې ویالې بهېري او د همېشنیو باغونو پاک سوتره کورو کې، دا ستر بری دی. او (تاسې ته به) یو بل نعمت درکړي چې خوښوئ یې، د الله مرسته او نژدې (راتلونکی) بری او مؤمنانو ته زېری ورکړه. اې مؤمنانو د الله (د دین) مرستندویان شئ، لکه د مریمې زوی عیسیٰ چې خپلو خاصو ملګرو ته وویل: د الله په لار کې څوک زما مرستیالان دي؟ ملګرو یې وویل: مور د الله (د دین) مرستندویان یو. بیا له بني اسرائیلو نه یوې ډلې ایمان راوړ او یوه ډله کافره شوه. نو مؤمنانو سره مو دهغوی د دښمن پرخلاف مرسته وکړه نو برلاسي شول.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په پخوانيو او ورستنيو کې چې د دين د حفاظت، بقا او تجديد و احيا څومره کارونه شوي دي، د ايمان د همدې غوښتنې د پوره کولو لپاره شوي دي. د امت په تاريخ کې په ژبه او قلم، په تورو او نېزو او په درهمو او دينارو د دين لپاره د هر ډول هلو ځلو ماخذ همدا «نصرت»دی. د قرآن غوښتنه دا ده چې د ايمان دغه تقاضا که کوم وخت مخې ته راشي نو د مؤمن بنده لپاره بايد په دې دنيا کې هېڅ شی هم تر دې ډېر ګران ونه اوسي. همدا ده چې د نبي صلی الله عليه وسلم په دعوت کې چې کله دغه مرحله راغله، نو قرآن وفرمايل:

قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللهُ بِأَمْرِهِ وَاللهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ. (التوبه ۹: ۲۴)

ژباړه: ورته ووايه: که پلرونه مو، زامن مو، وروڼه مو، مېرمنې مو، خپل خپلوان مو، هغه مالونه چې ګټلي مودي، هغه سوداګري چې تاسو يې له سړېدو وېرېږئ او هغه کورونه مو چې (ډېر) يې خوښوئ، تر الله، رسول يې او د هغه په لار کې تر جهاد کولو درته غوره وي نو بيا تر هغه صبر وکړئ چې الله خپله فيصله درته راوړي او الله فاسقانو خلکوته لارښوونه نه کوي.

بيا که د دين او دنيا په يوه چاره کې د انسان احساسات، تعصبات، ګټې او خواهشات دی د انصاف له لارې اړوي نو همدا ايمان تقاضا کوي چې مؤمن بنده نه يوازې په حق او عدل ودرېږي، بلکې که دوی د شاهدي غوښتنه وکړي نو د خپل سر په بيه د هغوی دا غوښتنه پوره کړي. حق ووايي، د حق په وړاندې د تسليمي سر ټيټ کړي. عدل وکړي، د عدل

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شاهدي ووايي او په خپل عقيده او عمل کې بې له حق او عدل نه هېڅ شی هم غوره نه کړي. دا «قيام بالقسط» دی او په قرآن مجيد کې دا حکم په دې ډول بيان شوی دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَاللَّهُ أَوْلَى بِهِمَا فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوَى أَن تَعْدِلُوا وَإِن تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا. (النساء۴:۱۳۵)

ژباړه: ای مؤمنانو (تل) په عدل (محکم) ولاړ اوسېږئ، د الله د پاره شاهدان، که څه هم پر خپلو ځانو مو وي يا پر مور و پلار او خپلوانو، شتمن وي که بېوزلی، خو الله تر هر چا زيات د هغو دواړو خواوو خيرغوښتونکی دی، نو په (خپل) هوس پسی مه ځئ چې بيا له حقه هم واوړئ او که ژبې واړوئ راواړوئ يا څنګ وکړئ نو بې شکه په هغو کارو الله ښه خبردی چې تاسو يې کوئ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ. (المائده۵:۸)

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله د پاره په حق ولاړ او په عدل شاهدان اوسئ، او د کومې ډلې دښمني مو دومره و نه پاروي چې بيا عدالت ونه کړئ، عدل کوئ، دا تقوی ته ډېر نژدې دی او الله نه وېره کوئ چې يقيناً الله په هغو کارو چې تاسو يې کوئ ښه خبر دی.

د دې دين هغه مقصد چې په قرآن کې بيان شوی دی، هغه د قرآن په اصطلاح کې «تزکيه» ده. د دې معنا دا ده چې انسان خپل انفرادي او اجتماعي ژوند له الايشو پاک کړي او خپل فکر او عمل ته په سم لوري کې وده او نمو ورکړي. په قرآن مجيد کې دا خبره ځای، ځای راغلې ده

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

چې د انسان اصلي مقصد بهشتِ برین او د «رَاضِيَةً مَرضِيَةً» پادشاهي ده او د بریا او فلاح هغه مقام ته د رسېدو تضمین د هماغو خلکو لپاره دی چې په دې دنیا کې خپله تزکیه وکړي:

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى. وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى. بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا. وَالآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى. (الأعلى ۸۷: ۱۴-۱۷)

ژباړه: په حقیقت کې هغه چا بری وموند چې پاك شو. او د خپل رب نوم یې یاد کړ او لمونځ یې وکړ. خو تاسې د دنیا ژوند غوره ګڼئ. او (حال دا چې) اخرت غوره او ډېر پایېدونکی دی.

نو په دین کې د غایې او مقصود حیثیت یوازې تزکیې ته حاصل دی، د الله نبیان د همدې مقصد لپاره مبعوث شوي او ټول دین د همدې مقصود ترلاسي او همدې غایې ته په رسېدو کې د انسان د لارښودنې لپاره نازل شوی دی. فرمایلي یې دي:

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ. (الجمعه ۶۲: ۲)

ژباړه: هماغه دی چې په امیانو کې یې خپله دوی نه یو داسې رسول ولېږه چې دهغه ایتونه وربانديې لولي، پاکوي یې او کتاب او حکمت ورزده کوي.

په دې دین باندې د عمل کولو لپاره چې کومه رویه باید د هغه منونکي ور خپله کړي، هغه «احسان» دی. د احسان معنا یو کار په خپله بهترینه طریقه کول دي. په دین کې چې کله کوم عمل په داسې ډول ترسره شي چې د هغه روح او قالب، دواړه له خپل ټول توازن سره په پام کې وي، هر جز یې بشپړ او په کمال سره ملحوظ وي او په دې شېبه کې بنده خپل ځان

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د خدای په حضور کې وګڼي، نو دې ته «احسان» ویل کېږي. د الله تعالی وینا ده:

وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لله وَهُوَ مُحْسِنٌ واتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلاً. (النساء ۴:۱۲۵)

ژباړه: او له هغه چانه په دین کې څوک غوره دی چې الله ته یې ځان تسلیم کړی، حال دا چې ښېګړی والا او د حق پلوي ابراهیم په دین پسې روان وي او الله خو ابراهیم خپل دوست نیولی.

نبي صلی الله علیه وسلم په خپل بلیغ اسلوب کې د دې خبرې وضاحت په دې ډول کړی دی:

الاحسان أن تعبد الله كأنك تراه، فان لم تكن تراه فانه يراك. (مسلم، رقم ۹۳)

«احسان» دا دی چې ته د الله عبادت داسې وکړې، ګواکې ته خدای وینې، خو که ته یې نه وینې، نو هغه خو دې وینې.



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اسلام او دولت

په اوس وخت کې چې کوم وضعیت د جهاد او قتال په خاطر ځینو منظمو وسله والو ډلو د خپلو اقداماتو له امله د اسلام او مسلمانانو لپاره په ټوله دنیا کې پیدا کړی دی، دا له همدې فکر ټوکېدلی فساد دی چې زموږ په مذهبي مدرسو کې زده او تدریسېږي، او زموږ اسلامي تنظیمونه او مذهبي سیاسي ګوندونه یې شپه و ورځ تبلیغ کوي. د دې په مقابل کې سم فکر څه دی؟ هغه موږ په خپل کتاب «میزان» کې په دلایلو سره بیان کړی دی. د هغه د تفصیلاتو لپاره خو باید زموږ همدې کتاب ته سر ورایسته شي، خو د هغه کومه برخه چې په اسلام او دولت پورې اړوند ده، د هغه یو لنډیز موږ دلته وړاندې کوو:

۱- د اسلام دعوت اصلاً د فرد لپاره دی. اسلام د فرد په زړه او ذهن خپل حکومت ټینګول غواړي. اسلام چې کوم احکام ټولنې ته ورکړې دي، د هغه مخاطب هم په حقیقت کې هغه وګړي دي چې د حل و عقد د خاوندانو په حیث خپل مسؤلیت سرته رسوي. نو دا فکر بالکل بې بنسټه دی چې د دولت هم کوم مذهب وي او د دې اړتیا وي چې د کومې معاهدې له لارې دې دولت مسلمان کړای شي او له قانوني پلوه دې پر هغه دا لازم کړای شي چې هېڅ قانون به د قرآن او سنت په خلاف په کې نه جوړېږي. دا فکر چې کومو خلکو وړاندې کړی او نورو باندې یې په منلو کې بریالي شوي دي، هغوی د دې زمانې په ملي دولتونو کې د تلپاتې اختلاف بنیاد اچولی دی او په هغو کې مېشتو نامسلمانانو ته یې دا پیغام ورکړی دی چې هغوی په حقیقت کې د دویمې درجې ښاریان دي او ډېر تر ډېره د هغوی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

حیثیت د خوندي اقلیت (protected minority) هومره دی او د دولت له اصلي واکمنو نه که دوی د کوم حق غوښتنه کولی شي نو په همدې حیثیت کې یې کولی شي.

۲- هغه هېوادونه چې هلته د مسلمانانو اکثریت دی، هغوی دې خپل متحده ایالتونه جوړ کړي. دا په مور کې د هر شخص خوب کېدلی شي او په واقعیت باندې د دې خوب د بدلولو لپاره هلې ځلې هم کولی شي، خو د دې فکر هېڅ اساس نشته چې دا د اسلامي شریعت کوم حکم دی چې مسلمانان یې په سرغړونه کې مبتلا دي. هېڅ کله نه، نه خلافت کومه ديني اصطلاح ده او نه په نړیواله کچه د خلافت راوستل د اسلام کوم حکم دی. له لومړۍ هجري پېړۍ سمدستي وروسته، هغه وخت چې د مسلمانانو جلیل القدره فقهاء د هغوی په منځ کې موجود وو، د دوی دوه واکمنی، په بغداد کې د عباسي دولت او په اندلس کې د امویه دولت په نوم رامنځته شوې او تر پېړیو پورې یې دوام وکړ، خو په دې فقهاوو کې یوه هم دا شی د اسلامي شریعت د کوم حکم سرغړونه ونه ګڼله، د دې لپاره چې په دې مسئله کې په قرآن او حدیث کې له سره کوم حکم راغلی نه دی. د دې په خلاف دا خبره ټولو کړې ده او مور یې هم کوو چې په کوم ځای کې که د مسلمانانو دولت جوړ شي نو له هغه نه خروج بدترین جرم دی او په دې باره کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د دې جرم ترسره کوونکي به د جاهلیت په مرګ مري. [13]

[13] بخاری، رقم ۷۰۵۳ - ۷۰۵۴

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

۳- په اسلام کې د قوم بنیاد اسلام نه دی، هغسې چې بالعموم انګېرل کېږي. په قرآن او حدیث کې هېڅ ځای دا نه دي ویل شوي چې مسلمانان یو قوم دي یا باید یو قوم اوسي، بلکې دا ویل شوي دي چې «**اِنَّمَاالمُؤمِنُونَ اِخوَةٌ**»[14] (مسلمانان په خپلو کې وروڼه دي). د قرآن له مخې د مسلمانانو خپلمنځي اړیکه د قومیت نه ده، بلکې د اخوت ده. و دې شي چې دوی په لسګونو قومونو، هېوادونو او دولتونو وېشلي وي خو په دې سربېره د ایمان په تار دوی د یو بل وروڼه دي. د همدې لپاره له دوی نه دا تقاضا خو کېدی شي او باید وشي چې هغوی دې له خپلو وروڼو ځان خبر ساتي، د هغوی په مصیبتونو او تکلیفونو کې دې د هغوی په کار راشي، که مظلوم وي نو مرسته دې ورسره وکړي، د اقتصادي او ټولنیزو روابطو لپاره دې هغوی ته لومړیتوب ورکړي او په هېڅ حال کې دې د هغوی په مخ خپلې دروازې نه ټړي، مګر دا تقاضا نه شي کېدی چې هغوی دې له خپلو ملي دولتونو او ملي هویت نه لاس په سر شي او خامخا دې یو قوم او یو دولت شي. په څه ډول چې دوی خپل ببل ببل ملي دولتونه جوړولی شي، په همدې ډول که په دین او شریعت باندې د عمل کولو ازادي وي نو په نامسلمانو دولتونو کې د ښاري په حیث او د وطن په اساس د یوه قوم په حیث هم اوسېدلی شي. دې ټولو کې هېڅ شی هم د قرآن او حدیث له رویه ناروا نه دی.

۴- په دنیا کې چې کوم خلک مسلمانان دي، د خپلې مسلماني اقرار، بلکې اصرار وربانديې کوي، خو یوه داسې عقیده یا عمل یې ور خپل کړی

---

[14] الحجرات ۴۹: ۱۰

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وي چې هېڅ عالم يا علماء يا نور ټول مسلمانان يې سم نه ګڼي، د هغوی دا عقیده یا عمل ناسمه ګڼل کېدلی شي، ضلالت او ګمراهي هم ورته ویل کېدی شي، خو دا چې د دې عقیدې او عمل خاوندان له قرآن او حدیث نه استدلال کوي، د همدې لپاره دوی نامسلمان یا کافر نه شي ګرځول کېدی. د دغه ډول عقایدو او اعمالو په باره کې د خدای پرېکړه څه ده؟ د هغه لپاره باید تر قیامته انتظار وشي. په دنیا کې د هغو خاوندان د خپل اقرار مطابق مسلمانان دي، مسلمانان به ګڼل کېږي او له هغوی سره به ټولې چارې هماغسې کېږي لکه د مسلمانانو د ډلې له یوه فرد سره چې کېږي. د علماوو حق دی چې د هغوی غلطي وربانديې واضحه کړي، هغوی ته د سمې خبرې دعوت ورکړي، د هغوی په عقایدو او نظریاتو کې چې کوم شی شرک دی، هغه ته شرک او کوم شی کفر دی، هغه ته کفر ووایي او خلک هم له هغه نه اګاه کړي، خو د هغوی په باره کې دا فیصله چې دوی نور مسلمانان نه دي یا دوی باید د مسلمانانو له ډلې نه بېل کړای شي، د دې حق هېڅ څوک نه لري، ځکه دا حق یوازې خدای ورکولی شوی او له قرآن او حدیث سره بلد هر شخص پوهېږي چې خدای دا حق هیڅا ته نه دی ورکړی.

۵- شرک، کفر او ارتدار یقیناً درانه جرایم دي، خو د هغو سزا یو انسان بل انسان ته نه شي ورکولی. دا د خدای حق دی. په قیامت کې به د هغو سزا هماغه ذات ورکوي او په دنیا کې هم، که کله وغواړي، هغه یې ورکوي. د قیامت مسئله دې وخت کې د بحث موضوع نه ده. په دنیا کې د دې سزا صورت دا وي چې الله تعالی چې کله په یوه قوم کې د خپل عدالت د ښکاره کولو فیصله وکړي نو هغه ته خپل رسول ور استوي. دا رسول په هغه قوم باندې حجت تماموي، تر دې چې هیڅا سره د خدای په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

حضور کې د وړاندې کولو لپاره کوم عذر نه پاتې کېږي. له هغه وروسته د خدای فیصله صادرېږي او هغه خلک چې په دې ډول د حجت له تمامېدو وروسته هم په کفر او شرک ټینګار کوي، هغوی ته په همدې دنیا کې سزا ورکول کېږي. دا یو الهي سنت دی چې قرآن په دې ډول بیان کړی دی چې «او د هر امت دپاره یو رسول وي نو کله چې رسول به یې ورته راغی د هغوی ترمنځ په انصاف سره فیصله کېدله او پر هغوی به ظلم نه کېدلو.»[15] د دې نوعیت کټ مټ هماغسې دی چې د اسمعیل علیه السلام د قرباني او د خضر په پېښه کې زمور مخې ته راځي. دا سزا له عامو انسانانو سره هېڅ تعلق نه لري. لکه مور چې د یوه نېستمن د مرستې لپاره بې د هغه له اجازې د هغه په کښتې کې سوری نه شو کولی، یو ماشوم چې د مور او پلار نافرمانه ومومو نو وژلی یې نه شو، د خپل خوب له مخې د ابراهیم علیه السلام په څېر د خپل زوی په غاړه چاړه نه شو ایښودلی، په همدې ډول یوه شخص ته د هغه د شرک، کفر یا ارتداد سزا هم نه شو ورکولی، مگر دا چې وحي راشي او خدای د خپل یوه رسول له لارې نېغ په نېغه د دې سزا امر وکړي. هر شخص پوهېږي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته د دې دروازه د همېشه لپاره تړل شوې ده.

٦- په دې کې شک نشته چې جهاد د اسلام حکم دی. قرآن له خپلو منونکو تقاضا کوي چې کله دوی سره طاقت وي نو د ظلم او تېري په خلاف جګړه وکړي. په قرآن کې د جهاد لارښوونه اصلاً د فتنې د ختمولو

[15] یونس ۱۰: ۴۷

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لپاره شوې ده. د دې نه مراد په ظلم او جبر له خپل مذهب نه د یو چا د اړولو کوشش دی. همدې ته په انګریزي ژبه کې 'Persecution' ویل کېږي. د نظر خاوندان پوهېږي چې مسلمانانو ته دا حکم د هغوی په انفرادي حیثیت کې نه دی ورکول شوی، بلکې د یوه نظام په حیث ورکول شوی دی. د دې حکم کوم ایتونه چې په قرآن کې راغلي دي، په خپل انفرادي حیثیت کې مسلمانان اصلاً د هغو مخاطب نه دي. نو په دې برخه کې د اقدام حق هم د هغوی دولتي نظام ته حاصل دی. د دوی له منځه هېڅ فرد یا ډله اصلاً دا حق نه لري چې د دوی له لوري د دغه ډول اقدام پرېکړه وکړي. نبي صلی الله علیه وسلم په همدې اساس فرمایلي دي چې د مسلمانانو واکمن د دوی سپر دی، جګړه به د هغه تر شا ترسره کېږي.[16]

۷- اسلام چې د کوم جهاد امر کوي، هغه د خدای په لاره کې جګړه ده، د همدې لپاره له اخلاقي حدودو نه په بې پروایي نه شي ترسره کېدی. اخلاقیات په هر حال کې او په هر شي لومړی دي او د جنګ او جګړې په شېبه کې هم الله تعالی له اخلاقیاتو نه د انحراف اجازه هېڅ شخص ته نه ده ورکړې. همدا ده چې دا بالکل قطعي دی چې جهاد یوازې له مقاتلینو یا جنګیالیو (combatants) سره کېږي. د اسلام قانون همدا دی چې که څوک په ژبه برید وکړي، نو ځواب به یې په ژبه ورکول کېږي، که له جنګېدونکو سره مالي مرسته وکړي نو د مرستې مخه به یې نیول کېږي، خو تر هغو چې له وسلې سره د جګړې لپاره نه راوځي، تر هغو یې ژوند نه شي

[16] بخاري، رقم ۲۹۵۷

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اخیستل کېدی. تر دې چې ان د جګړې په میدان کې هم که وسله وغورځوي، نو د اسیر په حیث به نیول کېږي، او له هغه وروسته وژل کېدی نه شي.

په قرآن کې چې د جهاد حکم په کوم ایت کې راغلی دی، د هغه الفاظ دا دي چې «او دالله په لارکې له هغو سره وجنګیږئ چې درسره جنګیږي خوتېرى مه کوئ، بې شکه الله تېرى کوونکي نه خوښوي.» نبي صلى الله عليه وسلم د جګړې په وخت کې د ښځو او ماشومانو له وژلو نه منع کړې ده.[17] د دې وجه هم دا ده چې که هغوی له جنګ کوونکو سره وتلي هم وي، نو بالعموم هغوی جګړه نه کوي، ډېر تر ډېره د جنګیالو مرال لوړولی شي او په ژبه هغوی جګړې ته هڅولی شي.

۸- د اوسني عصر له مغربي مفکرینو نه پېړۍ، پېړۍ مخکې قرآن اعلان کړی و چې «**اَمرُهُم‌شُورى‌بَينَهُم،**»[18] (**د مسلمانانو اجتماعي چارې به د هغوی په خپلمنځي مشورې بنا وي**). د دې څرګنده معنا دا وه چې د مسلمانانو حکومت به د هغوی په مشوره جوړېږي. نظام به د مشورې له لارې منځته راځي. په مشوره ورکولو کې به د ټولو حقونه برابر وي. هر څه چې د مشورې له لارې جوړ شوو، هغه د مشورې په مټ له منځه هم وړل کېدی شي. د کوم شي د رامنځته کولو لپاره چې مشوره کېږي، د هر

[17] بخاري، رقم ۳۰۱۵، مسلم، رقم ۱۷۴۴.

[18] الشورى ۴۲: ۳۸.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شخص رایه به د هغه د وجود برخه گرځي. که په اجماع او اتفاق پربکړه ونه شي نو د شخړو د فیصله کولو لپاره به د اکثریت رایه منل کېږي.

همدا جمهوریت دی. همدا ده چې استبداد که د کورنۍ وي یا یوې طبقې، د ډلې وي یا ملي اداري، په هېڅ حال کې نه شي منل کېدی، تر دې چې د نظام اړوند د سیاسي احکامو د تعبیر او تشریح لپاره د ديني علومو د ماهرینو هم نه. هغوی دا حق یقینا لري چې خپل تشریحات وړاندې کړي، خپل نظر بیان کړي، خو د دوی دریځ به د خلکو لپاره هغه وخت د واجب الاطاعت قانون حیثیت خپلوي، چې د ولس د منتخبو استازو اکثریت منلی وي. په اوسنیو دولتونو کې د پارلمان اداره د همدې موخې لپاره جوړېږي. د دولت په نظام کې وروستۍ پربکړه د پارلمان ده او باید د همدې وي. د خلکو حق دی چې د پارلمان په پربکړو تنقید وکړي او د هغه د غلطۍ د واضح کولو هڅه وکړي، خو له هغه نه د سرغړونې او له هغه نه د بغاوت حق هېڅ څوک نه لري. عالمان وي یا د دولت عدلیه، له پارلمان نه هېڅ څوک لوړ نه شي کېدی. د «**اَمرُهُم‌شُورى‌بَینَهُم**،» اصول په هر فرد او اداره باندې دا لازموي چې د پارلمان له پربکړو سره په اختلاف سربېره په عمل کې د هغه په وړاندې د تسلیمي سر ټیټ کړي.

په اسلام کې د حکومت جوړولو او چلولو همدا یوه روا طریقه ده. له دې ور اخوا، هر حکومت چې جوړېږي، هغه به یو ناروا حکومت وي، ان که د مشر په تندي یې د سجدو نښې هم وي او ان که د امیرالمؤمنین په لقب هم ونازول شي.

۹- که په کوم ځای کې د مسلمانانو حکومت جوړ شي نو له هغه نه بالعموم د شریعت د پلي کولو غوښتنه کېږي. دا تعبیر مغالطه ایجادوي، له

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دې نه دا تاثر پیدا کېږي چې په اسلام کې حکومت ته دا حق ورکول شوی دی چې هغه د شریعت ټول احکام د دولت په زور په خلکو نافذ کړي، حال دا چې په قرآن او حدیث کې دا حق د هېڅ حکومت لپاره هم ثابت نه دی. په اسلامي شریعت کې دوه ډوله احکام دي: یو، هغه چې فرد ته د فرد په حیث ورکول شي دي، او دویم، هغه چې د مسلمانانو ټولنې ته ورکول شوي دي. د لومړي ډول احکامو معامله د خدای او بنده ترمنځ ده او په دې احکامو کې دی د حکومت په وړاندې نه، بلکې یوازې د خپل رب په وړاندې ځواب ویونکی دی. همدا ده چې د دنیا هېڅ حکومت دی، مثلاً، روژې نیولو یا حج او عمرې ته د تلو یا سنت کېدو یا برېتونو لنډولو لپاره او که ښځه وي نو د سینې پټولو، د زیب او سینګار د نه ښودلو یا له ټیکري سره دباندې وتلو ته نه شي مجبورولی. په دې ډول چارو کې له تعلیم او تربیې او تلقین او نصیحت نه وړاندې د حکومت هېڅ واک نشته، مگر دا چې د یو چا د حق تلفي، یا ځان، مال، ابرو په خلاف د تېري اندېښنه وي. قرآن په ټول صراحت سره دا وضاحت ورکړی دی چې د دین له ایجابي احکامو نه یوازې لمونځ او زکات دي چې د مسلمانانو سیاسي نظام یې، که وغواړي نو د قانون په زور غوښتنه کولی شي. د قرآن کریم وینا ده چې له هغه وروسته په حکومت لازمه ده چې د هغوی لاره خوشي کړي او په هغوی باندې د کوم شي د پلي کولو کوشش دې نه کوي.[19] پاتې شوو دویمه ډله احکام، نو هغه په حقیقت کې فقط حکومت ته ورکول شوي دي، ځکه په

[19] التوبه ۹: ۵

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اجتماعي چارو کې همدا حکومت د ټولنې استازیتوب کوي. علماء که د حل او عقد له خاوندانو نه په دې احکامو باندې د عمل کولو غوښتنه کوي نو یقیناً دوی به په حق وي او د خپل منصب په لحاظ باید هم دا کار وکړي. خو دا په شریعت باندې د عمل دعوت دی، د شریعت د پلي کولو تعبیر د دې لپاره هم مناسب نه شي ګڼل کېدی.

د دویمې ډلې احکام په لاندې ډول دي:

الف- مسلمانان به د خپلو واکمنو رعیت نه وي، بلکې د یو برابر ښاریان به وي. د قانون او دولت په سطحه به د لوی او واړه او خان او عام په منځ کې هېڅ فرق نه منل کېږي. د هغوی ځان، مال او ابرو ته به حرمت حاصل وي، تر دې چې حکومت به د هغوی له رضا پرته له زکات نه علاوه هېڅ مالیه هم په هغوی نه شي لازمولی. د هغوی په شخصي چارو، یانې نکاح، طلاق، د میراث وېش، راکړه ورکړه او د دې نوعیت نورو چارو کې که کومه شخړه پیدا شي نو د هغو پربکړه به له اسلامي شریعت سره سمه کېږي. د ورځې او شپې د لمونځونو، د رمضان میاشتې د روژو او حج او عمرې لپاره به هغوی ته ټولې اړینې اسانتیاوې برابرېږي. په هغوی به په عدل او انصاف او د «**اَمرُهُم‌شُورى‌بَينَهُم**،»په طریقه حکومت کېږي. د هغو ملي شتمنۍ به د اجتماعي اړتیاوو لپاره ځانګړې ساتل کېږي، د هیچا په شخصي ملکیت کې به نه ورکول کېږي، بلکې په داسې ډول به وده او نمو ورکول کېږي چې کوم خلک چې په اقتصادي منډه کې شاته پاتې وي، د هغوی اړتیا هم د دې شتمنیو له عاید نه پوره شي. هغوی چې له دنیا نه رخصت شي نو د هغوی تکفین او تدفین به د مسلمانانو په طریقه کېږي،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په هغوی به د جنازې لمونځ کېږي او هغوی به د مسلمانانو په هدیره کې او د هغوی په طریقه خاورو ته سپارل کېږي.

ب- د جمعې او اختر د لمونځونو اهتمام به حکومت کوي. دا لمونځونه یوازې په هغو ځایونو کې ترسره کېدی شي چې د حکومت له لوري د هغو لپاره ټاکل شوي وي. د دې ځایونو منبر به د واکمنو لپاره ځانګړی وي. پخپله واکمن به د دې لمونځونو خطبه ورکوي او د هغو امامت به کوي یا به د دوی له لوري کوم استازی دا مسؤلیت ترسره کوي. د دولت په حدودو کې هېڅ شخص له خپله ځانه د دې لمونځونو اهتمام نه شي کولی.

ج- د قانون پلي کوونکې اداره به اصلاً د **امربالمعروف** او **نهيعنالمنكر** اداره وي. همدا ده چې د ټولنې تر ټولو صالح وګړي به د دې ادارو لپاره د کارمندانو په حیث انتخابېږي. دوی به خلکو ته د ښېګڼو بلنه ورکوي او له هغو شیانو نه به یې راګرځوي چې انسان له همېشه نه د بدي په سترګه ورته کتلي دي. خو د قانون زور به هماغه وخت کاروي چې کله یو شخص د چا حق تر پښو لاندې کړي یا د هغه د ځان، مال او ابرو په خلاف په کوم اقدام لاس پورې کړي.

د- حکومت به د خپلو دښمنانو په برخه کې هم په قسط ولاړ وي. حق به وایي، د حق شاهدي به ورکوي او له حق او انصاف نه اخوا به هېڅ کله کوم اقدام نه کوي.

ه- د دولت دننه یا دباندې که کوم ټرون وشي نو تر څو چې ټرون پاتې وي، د لفظ او معنا دواړو له پلوه به په پوره دیانت او پوره اخلاص سره په هغه دربېږي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د- د مرګ سزا به له قتل او فساد في الارض پرته په هېڅ جرم کې نه ورکول کېږي. بله دا چې که د دولت کوم مسلمان ښاروند زنا، غلا، قتل، فساد في الارض او تور پورې کولو جرم ترسره کړي او محکمه مسطمئنه شي چې د خپلو شخصي، کورنیو او ټولنیزو حالاتو په لحاظ دی د هېڅ ډول رعایت مستحق نه دی نو په ده به هغه سزاګانې پلي کېږي چې الله تعالی د هغه چا لپاره په خپل کتاب کې ټاکلې دي چې په پوره شعور او پرانیستې سینې سره یې د اسلام د دعوت له منلو وروسته دغه جرایم ترسره کړي وي.

ز- د اسلام دعوت د دنیا ګوټ ګوټ ته د رسولو لپاره به د حکومت په کچه اهتمام کېږي. که د دنیا کوم ځواک په دې کې خنډ پیدا کوي یا ایمان راوړونکي د جبر او تشدد هدف ګرځوي نو حکومت به د خپل وس مطابق د هغه خنډ د لرې کولو او د هغه تشدد د مخنیوي هڅه کوي، ان که د دې هدف لپاره د تورې پورته کولو ته هم اړتیا شي.[20]

۱۰- د حکومتي نظام په باره کې دا د شریعت احکام دي او له دې خبرداري او ګوابښ سره ورکول شوي دي چې هغه خلک چې د خدای د کتاب له منلو وروسته په هغه کې د خدای د نازل کړي قانون مطابق پرېکړې نه کوي، د قیامت په ورځ به دوی د خدای په حضور کې ظالمان، فاسقان او کافران ګرځول کېږي. [21] خو که د مسلمانان د حل او عقد خاوندان په دې سربېره په دې برخه کې سستي کوي یا سرکښي ته لاس

[20] د اسلام په ماخذونو کې د دې احکامو د دلایلو لپاره وګورئ، زمور کتاب «میزان»

[21] المائده ۵: ۴۴-۴۷

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اچوي نو د علماوو او اصلاح غوښتونکو مسؤليت له دې پرته نور هېڅ هم نه دی چې په دنيا او اخرت کې يې د دې کار له پايلو خبر کړي. هغوی ته په حکمت او د غوره نصيحت په اسلوب کې د سمې رويې د خپلولو بلنه ورکړي، د هغوی د سوالونو په وړاندې ودربېړي، د هغوی اشکالات لرې کړي او په دلايلو سره هغوی ته ووايي چې الله تعالی خپل شريعت ولې راکړی دی؟ له ټولنيز ژوندانه سره يې تعلق څه دی؟ په هغه کې د احکامو بنسټ څه دی او د اوسني عصر انسان د هغه په درک کولو کې ولې مشکل محسوسوي؟ د هغه د تفهيم او وضاحت لپاره دې داسې اساليب غوره کړي چې د دې احکامو حکمت، معنويت او د هغو مقاصد په دوی واضح شي او د هغوی زړه او ذهن په پوره ډاډ د هغو منلو او په هغو عمل کولو ته اماده شي. په قرآن کې د علماوو او اصلاح غوښتونکو منصب دعوت او انذار ښودل شوی دی. دوی د خپل قوم او د خپل قوم د واکمنو لپاره پوليس نه دي گرځول شوي چې د خپلو پيروانو ډلې منظمې کړي او د توپک په زور په هغوی باندې د شريعت د پلي کولو کوششونه وکړي.



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نهي عن المنكر

د ایمان یوه لازمي تقاضا دا هم ده چې خلکو ته د ښېګڼو بلنه وشي او له بدیو راوګرځول شي. دا بلنه او راګرځول، دواړه باید له حکمت او موعظت سره د دعوت او نصیحت په اسلوب کې وشي. د خلکو د هدایت او بې‌لارۍ معامله الله تعالی په خپل لاس کې ساتلې ده. هغه هغوی هم پېژني چې د ده له لارې بې‌لارې شوي دي او هغوی هم چې هدایت موندونکي دي، د همدې لپاره د حق او انصاف د دعوت لپاره باید هېڅ څوک جبر کوونکی نه شي او نه د خپلو مخاطبینو لپاره د جنت او جهنم فیصلې صادرې کړي. قرآن په دې معامله کې بالکل واضح دی چې د حق د داعي په حیث د خدای پیغمبر ته هم له تذکیر او نصیحت او ښکاره ابلاغ وړاندې د کوم اقدام اجازه نه ده ورکول شوې. د الله تعالی ارشاد دی:

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ. لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ. (الغاشية ٨٨: ٢١-٢٢)

ژباړه: نو نصیحت کوه! ته خو یوازې نصیحت کونکی یې، پر هغوی خو جبر کونکی نه یې.

د واک د دایرې مسئله، البته بیا جلا ده. پاخه عمر ته له رسېدو وروسته انسان د ښځې مېړه او په پایله کې یې د ماشومانو پلار ګرځي. د بنیادم دا دواړه حیثیتونه د دین او فطرت له مخې د واک او اختیار یوه دایره ایجادوي. همدا حالت د ادارو او حکومتونو هم دی. کله چې یوه اداره رامنځته شي نو د هغو د مشرانو لپاره هم د اختیار یوه دایره پیدا شي. نبي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

صلی الله علیه وسلم د همدې دایرې دننه د ترسره کېدونکو بدیو په باره کې فرمایلي دي:

من رای منکم منکرًا فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه، وذلک أضعف الایمان.

(**مسلم، رقم ۱۷۷**)

ژباړه: تاسو نه چې څوک بدي وګوري، نو ورته پکار ده چې په لاس یې مخه ونیسي. خو که د دې زور نه لري نو په ژبه او که دا هم ونه شي کړای نو په زړه کې دې یې بد وګڼي او دا د ایمان تر ټولو ټیټه درجه ده.

د بدي لپاره په دې روایت کې د «منکر» کلمه راغلې ده. دې نه مراد هغه بدی نه دي چې د سوچه مذهبي احکامو له سرغړونې نه پیدا کېږي، بلکې هغه بدی دي چې ټول انسانیت یې د مذهب او ملت له فرق پرته بدې ګڼي. غلا، دروغ، بد دیانتي، دوکه، خیانت، په ناپ او تول کې کمی، ملاوټ، حق خوړل، فواحش، د ځان، مال او ابرو په خلاف تېری او د دې نوعیت نورې بدی په عربي ژبه کې د «منکر» په کلمې سره تعبیرېږي. د نبي صلی الله علیه وسلم دا وینا د همدې بدیو اړوند ده. د **امر بالمعروف** او **نهي عن المنکر** هغه حکم چې په قرآن کې بیان شوی دی، دا د همدې یوه فرعه ده. رسول الله خبرداری ورکړی دی چې که دا بدی د خپل اختیار په دایره کې په زړه کې هم بدې نه ګڼئ نو بیا له هغه نه رالاندې د ایمان هېڅ درجه نشته.

«**ان لم یستطع**» الفاظ چې په دې روایت کې راغلي دي، په هغو هم باید ځان پوه کړو. دې نه مراد هغه استطاعت نه دی چې انسان د یوه کار مکلف ګرځوي، ځکه که دغه استطاعت نه وي او دی په یوه حکم عمل نه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کوي نو بيا د ايمان ټيټې درجې ته نه راځي. په روايت کې دا الفاظ د همت او حوصلې په معنا کارول شوي دي چې د ايمان د قوت يا کمزوري له امله کم يا زيات کېدی شي. نو دا يوازې د اختيار دايره ده چې که يو شخص په کې يوه بدي په لاس نه منع کوي نو د هغه په باره کې دا ويل کېدی شي چې دی د ايمان په لومړۍ درجې کې پاتې نه دی، ځکه له واک او اقتدار سره سره يې د بدي د مخنيوي هڅه نه ده کړې. د دې هېڅ کله دا معنا نه ده چې د ايمان د دې درجې د ترلاسي لپاره خلک د خپلو پيروانو ډلې منظمې کړي او د منکراتو د مخنيوي په خاطر راووځي. که دغه ډول اقدام کېږي نو به تر ټولو ناوړه فساد وي چې په دين کې يې هېڅ ګنجايش نشته. د دين ټول احکام د انسان د اختيار او د هغه د وس په لحاظ ورکول شوي دي. «**لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا**[22]» قطعي اصول دی چې د دين او شريعت په ټولو احکامو کې ملحوظ دی. د نهي عن المنکر په باره کې د نبي صلی الله عليه وسلم ويناوې بايد د همدې اصول په رڼا کې مطالعه شي.



[22] البقره ۲: ۲۸٦. ژباړه: (دا حقيقت دی چې) الله په چا د هغه له وس نه ډېر بار نه اچوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish